Afghanistan Digital Library

adl0024

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 1 of 140

# نظامنامهٔ د

# جزای عمومی

چه کړدی ضمیمی د دی په اصل د مادیاو آخر د متعلقه عنوانو

د هغه کښی لیکل شویدی

په (۱۵) د (میزان) سنه ۱۳۰۶ شمسی په

مطبعه د «شرکت رفیق» ماشینخانه د کابل کښی

چهاپ شویدی

شمار د چهاپ .............. (۱۵۰۰)

قیمت ئه د یوی نسخی ........ (یک افغانی پول)

بسم الله الرحمن الرحیم

# (نظامنامهٔ جزای عمومی)

## (مقدمه:)

(اول)

قاعده: - لکه چه اجرا د سزا ورکولو د هغو جرمونو چه
پر شان سره په خلاف د حکومت پېښېږي
د دولت ته وسپېږي، همداسي شان له جملي
د هغو جرمونو چه په خلاف د یو سړي پېښ
شي، معلومول د درجي د تعزیر و د هغو هم
چه شرعي او سیاستي تعزیرونه تابع وي د دولت
ته وسپېږي، بنابر دې باندې په حق کښې د عفو د

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 4 of 140



دوه وازه سزا ورکولو په دی نظامنامی د جزاء کښ لکه چه اندازی د هغو په قرار د فکر د اولوا الامر او وکیل د اولوا الامر، پس له پیښیدلو د واقعی، او کتلو د حال د مجرم معلوماوه شی، سیبونه د هغو بیان شوی دی، او په حق د هغو جرمونو کښ چه قصاص، او دیت، او حد ته، تابع وی، حکمونه د پاك شریعت لوه همزنیونکی دی، لپاره د دی، تول هغه چه په دی نظامنامه کښ دی، سم له روښانه شرع د محمدی صلعم، او برابر له پاك مذهب د حنفی، او بنا په قوی مفتیٰ بها روایتونو سره دی:

(۳):- هغه جرمونه چه په شرع سره واجبونکی د سزا ورکولوی دری قسمه دی:-

اول:- هغه چه لازمونکی د جزا د حد وی.

دوهم:- لازمونکی د جزا د قصاص او دیت.

دریم:- لازمونکی د جزا د تعزیر.

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 5 of 140



(۳):- هغه جرمونه چه لازمونکی د حد دی لکه زنا، او
سکل د شرابو، او قذف، او غلا، او داړه ماری
دی چه اندازی د هغو د شارع له خوا معلومی شوی دی
(٤):- هغه جرمونه چه لازمونکی د قصاص او دیت
کیږي وژل، او پرهار کول دی.
(٥):- هغه جرمونه چه تعزیر لازموی، هغه بدکاره نه
دی چه کونکی لره ئې اندازه کړی شوی او معلومه
جزا نشته، بلکه فکر او رای د اولوالامر او وکیل د
اولوالامر ته مفوض او سپارلی شوی دی چه په
راز راز درجو، او قسما قسم مرتبو سره مجرمینو کسانو
لره، پس له کتلو د حال د مجرم، په وقت د بیلیدلو
د جرم کبس، جزا معلومه کړی، لکه ترخه ویل، او
په تروه وچلی سره کتل، او د غوږو نو سملول
او د قاضی تر دره پوری بیول، او بندی کول، او
قراره ول، تردبجی د وژلو پوری سیاستا، لکن په قسم

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 6 of 140



دجزا د وهلو کښې له (۳) درو څخه تر (۳۱)
درو پورې واک لري، او په بندي کولو کښې، لپا
دهغو کسانو چه په فساد سره مشهوره او
بلل شي تر حبس دوام (همیشه بندي ـب) او
لپاره د نورو مجرمینو لازمونکې د تعزیري سزا ورکولو
هر څومره وعده چه معلوموي اختیار لري.
(٦):- مدّة د حبس د مجرمینو تر وقته د ښکاره کیدلو
د علامو د صلاح او توبې پورې دی- هغه څوک
چه حکم د جزاء د حبس پرې شوی دی که چېږې
له پوره کولو د مدّة د حبس څخه توبه او صلاح خپله
په هغې شرطونو سره چه لاندې بیانیږي ظاهر
او ثابته کړی باقي ورځې د مدّة د حبس د
بښلي کیږي:-
الف:- هغه مجرمین چه په موجب د فیصلو د
د عدلیه سره حکم د حبس پرې شوی

اول- هغه مجرمین چه بی له واقعاتو د

وژلو او غلا څخه په سبب د کولو د نورو

جرمونو بندی وی

الف:- هغه مجرمین چه تر دری کلو

پوری حکم د حبس پری شوی

نظر و مدة محکومیت د حبس په

تصدیق د دریمی برخی تر

نیمائی د استیناف ونکی د کلی یا

کوټه د ده څخه.

ب:- هغه مجرمین چه زیاد له دری

کلو څخه حکم د حبس پری

شوی وی په تصدیق د ده

برخی له دری برخی د استیناف ونکی

د کلی یا کوټه د ده څخه

دویم هغه خلک چه وژل یائی غلا کړی وه

په تصدیق دګردو استیدونکو دکلی یاکوڅی
دده څخه، تصدیق د استیدونکی دکلی یاد
کوڅی باید چه شرعی وی اودا شرط په کښی
شته دی، ټول هغه کسان چه تصدیق
کړی د مجرمینو قوم یائی خپلوان نه وی
او په تصدیق داستیدونکو دکلی اوکوڅی
کښ چه په باب د ښکاره کیدلو دعلامو
د توبی او صلاح د مجرم کښ ئی کړی،
هغه مجلسونه چه مجرمین له هغه ځای
څخه خوشی کیږی او په (۸) ماده کښ
روښانه بیان شوی، اطمینان د حال صلح
کړی - اوکه کلی ووړاو نفری د هغه
کلی ټکٹ وی هغه مجلسونه په
صلاحیت د حال د هغو چه تصدیق
ئی کړی دی، په رښتیا سره

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 9 of 140



علم داو سستلی ، منظوره وی بہ ئی .

ب :- هغه مجرمین چه په موجب د فیصلی د
مجلسو د مشاورې او محکمو د مامورینو
حکم د حبس پورې شوی وی :-
اوّل :- هغه مجرمین چه تر دری
کلو پورې حکم د حبس پری
شوی وی په تصدیق د نژدې
مافوق آمر د ده ، او د مامورینو
د هغی اداری چه دوی ته
نسبت کاوه شی .
دوه یم :- هغه مجرمین چه زیاد پردې
کلو حکم د حبس پری
شوی وی ، په تصدیق د
مافوق امر او د هغه وزیر
مستقل مدیر چه دوی ته ئی نسبت .

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 10 of 140



کاوه شي.

(۷):- په تصدیقونو د علماوو صلاح او توبې، تصدیق د مجلس د مشورې دادارو د هغو حکومتیو چه دوی ته ئې نسبت کاوه شي، په ترتیب سره تر هغو ځایو پورې چه حکم د خلاصې د هغه ور کاوه شي باید وکړ شي

(۸):- تصدیق د علماوو د صلاح او توبې د بندیانو پس له تیریدلو د دوه برخې له دریو برخو د مدت د حبس د محکومیت د دوی څخه، چه په قرار د روښانه بیان د (۶) او (۷) مادې سره ترتیب مومي، دې ځایو ته چه لاندې بیانیږي، وړاندې کیږي، پس له ډاډ او اطمینان د هیئت د هغو دائرو په ښکاره کیدلو د صلاح او توبه د دوی، له دې ځایو څخه بخښل د مجازات د باقي مدت د حبس د مجرمینو، په اندازه د اختیاراتو

دی دوسړو کولای شی، لکن پر مبی لړتیو یې د هغه محکمې څخه
هغه تصدیق نه وړاندی کولای او نه ئې
منظوره ولای شی:-

الف:- مجمل د مجازات د باقی حبس د مامورینو:-

اوّل:- هغه مجرمین چه حکم د حبس تر
یو کاله پوری پری شوی وی، د مجلس
د شوری د نائب الحکومگیو او اعلیٰ
حکومتیو له خوا.

دوهم:- هغه مجرمین چه حکم د حبس ئې ضمن
له یو کاله تر دری کلو پوری شوی وی،
له طرفه د مرکزی د عدلیه کولو د مامورینو
د هغه وزارتو چه نسبت ئې ورته
کاوه شی.

دریم:- هغه مجرمین چه حکم د حبس زیاد
له دری کلو څخه پری شوی وی، په منظوری

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 12 of 140



د حضور ملوکانه سره .

ب:- بجنیل د سزا ورکولو د باقی حبس د
غیر له مامورینو:-

اوّل:- هغه مجرمین چه حکم د حبس
د یو کال پری شوی وی ، د هغو مجلسو
د مشاوری له لوری چه حکم د بندی
کولو ئی کری دئ .

(۲) دوم:- هغه مجرمین چه حکم د
حبس اضافه له یو کاله تر دری
کلو پوری پری شوی وی ، د مجلس
د مشاوری د هغو نائب الحکومگیو
او اعلی ،اولویو حکومتیو له خوا چه
نسبت ئی ورته کاره شی .

دریم: هغه مجرمین چه حکم د حبس اضافه
له دری کلو تر لسو کالو پوری

پوری شوی وی، په منظورے د مرکی

د غوره کولو د مامورینو د وزارت عدلیه سره

څلورم:- هغه مجرمین چه حکم د حبس اضافه

له لسو کلو پوری شوی وی، په منظورے

د حضور د اعلیحضرت پس له تصدیقه

د وزارة عدلیه څخه.

(۹):- تصدیق د علاموه صلاحیت او توبی، په دی قرار

سره چه پاس بیان شه، تر دوه ځلی، په حق د هغو

سړی کښی منظوریږی او له دوه ځلی څخه پورته، په حق

د غلا کوونکو او مشهور بالفساد کښی اعتبار پوری نه

کاوه شی.

(۱۰):- هغه کسان چه حکم د حبس اضافه له یوی میاشتی

څخه تر دری کلو پورے پوری شوی وی، یواځی په یوه پښتنی ولاتی

سره په بندی خانه کښی مدت د حبس خپل پوره کوی

او په بندیخانه کښی د از راز کسبونه پرے کاول شی، خو یا په شرط د تغییر

ددوی، د دولت لهخوا ورکاول کیږی هغه شوك
چه له یوی میاشتی څخه کم حکم د حبس پرې
شوی وی، په توقیف خانه کښ بندی پاته کیږی
(۱۱) هغه بندیان چه تهمت د وژلو پری شوی وی
او په فساد سره مشهور وی، او هغه بندیان چه
اضافه له درې کاوڅخه حکم د حبس پری شوی وی
په دوا ړه پښو د مجرم کښ زولانی آچولی کیږی،
نظر و خواهش او مناسبت د جرم ته سخت خند متوسط
د دولت پری ورکاول شی، او د دولت له خوا
خوراك ورکاوله شی.
(۱۲) جزاد وهلو په میدانی د سرایو د حکومتی کښ
په داسی شان چه یو له مفتیانو د هغی شرعی
محکی څخه چه حکم د وهلو ئ کړی دی،
او یو کس منصبدار د کوتوالی، او په وقت د
مناسبت کښ نائب الحکومه یا حاکم او یو ه ډله

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 15 of 140



د نظامیو او کوتوالي وجود وی، د یوی لوئی
تولنی خلقو په منځ کښ اجرا کیږی.

(۱۳):- جزا د وهلو په دی طور اجرا کیږی چه لاندی
بیانیږی:-

مُفتی د شرعی محکمی سره له ډلی د نظامیو او
کوتوالو چه پاس قاعده کښ بیان شول،
په عین منځ د سرای د حکومتی کښ ځای نسی
او استید نکی په څو چاپیر د میدانی کښ دریږی
او داسی به تولیږی، چه یو فراخه میدان د د
په منځ کښ جوړ شی، پس له هغه به هغه څوک
چه حکم د وهلو یی شوی دی، میدان ته داوستل
کیږی، او مفتی د همغی محکمی چه حکم
د وهلوئ ورکړی دئ، فیصله د حکم به په
لوړ آواز سره لولی، پس له لوستلو، هغه
چه حکم یی شوی دی، له بالا پوش جامو څخه

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 16 of 140



بوتلل او ه شي ، او په هغه ميدانی کښی دراوه شي
په حال د ضرورة کښی یو سړی له کوتوالیو څخه په
مخ د هغه کښی درېږی د هغه سر به په تخته
کښی نسی ، جلاد د کوتوالی به د شرع شريف
دتره آخلی ، په موجب د اشارة سړه چه د مفتی
له خوا کاوه شي ، يوه يوه به د مجرم په شا باندی
پری باسی ، په وهلو کښی بايد چه ښتی لاس له ودی
څخه پورته نه شی ، او پس له وسيلو د دره
پوستکی تړ بايد چه په پوستکی د مجرم رانښکو د له
وروستی له پوره کيدلو د مطلوبه شمار څخه په موجب
د اشارة د مفتی د محکمی کار د وهلو تماميږی ،
او پس له هغه که هغه چه حکم د وهلو پری شوی
بوسيله په هغه حکم د حبس هم پری شوی وی
بند يخانی ته سپاره کيږی ، او که اضافه
په وهلو باندی يل حکم پری نه وی شوای ، خوشی

کاوه شی، او که هغه چه حکم پری شوی بښخه وی د شرعی حکمی په مخ کښی په ناسته د محرمی، په شان د ستر سره وهله کیږی، او په حال د ضرورت کښی سړه د هغی باید چه یو محرم سړی ولسی، او که محرمئی نه وی یوه بله ښځه باید چه سره د هغی ولسی، او لوستل د فیصلی د حکم په لوړ آواز سره د دے په شان کښی ضرورت نه لوی.

(۱۴):- هیڅ مامور د دولت ترڅو چه حکم د شریعت غرّای محمّدی نه وی، هیڅوک له رعیّتیو څخه په هیڅ وسیله او بله سره نه شی وهلای، او هم هغه حکم چه له محکمی څخه شی بهر په شان سره ئی بخپل لاس نه شی اجرا کولای، جزا د وهلو فقط په هغه شکل او صورت سره چه پاس بیان شه، اجرا کیږی.

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 18 of 140



(۱۵):- صورت او شان د جزا د تعزیری د وژلو، له حضوره
د پادشاهی څخه صادرېږی، او په منځ د منظور شوے
د هغه اعلان کښې چه حکم د وژلو په کښې
لیکلی شوی دی د اشرف پادشاهی له خوا ظاهره
بیان او اراده کاوه شی .

(۱۶):- هغه ښځه چه حکم د جزا د وژلو پری شوی دے د
که وړُله وی، پس له زوکولو د اولاد څخه جزا
ورکوله شی .

(۱۷):- هر ناریته چه حکم د جزا د حبس اضافه له
دری کلو پېری شوی وی، مجلس د معلومو
د جزا په تشهیر (رسوا کولو) د هغو کښې اختیار کړے
هر مجرم چه مناسب د تشهیر وګڼی تشهیر کاوه شی

(۱۸):- که یو له تابعانو د بیګانه دولتو استیدنکی د افغانستان
یو داسی شان جرم وکړی چه لازمونکی د
جزا وی، له دی نظامنامه د جزا سره لکه نور تابعان د

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 19 of 140



افغانستان جزا وركاوله كيږي

(۱۹):- كه يو سړى د دوسته له هغه نه چه په صورت
قطعى سره په سبب ديوله تعزيريه مجازات د
حقوق الله، بندى شه، او په منځ د بندى
توب كښې ئې يو دا سې شان جرم وكړ چه
واجونكى د جزا د حبس شي نو هر څمره چه
له مدّت د اول حبس د ده باقي پاته وي په
جزا د دوهيم حبس كښې حسابيږي، او كه هغه
مدّة د ړومبني حبس چه باقي پاته دى اضافه
وي له محكوميت د دوهيم حبس څخه، هغه
مدّة د حبس چه له ړومبني محكوميت د حبس
څخه باقي پاته دى پوره كوى بېرته، او په تعزيراتو
د حقوق العباد كښې، ځانته حبس مقرر بوي
او په حدودو كښې كه جرمونه له يو قسم څخه وي
بېخوا له جارى كولو د ړومبني حل څخه يو حل

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 20 of 140



نخی دی، او پس له اجرا څخه مجازات د دوه حد هم مومی، او په راتلونکی کی دغو جرمونو کښی تمامو ځان ته حدونه جاری کیږی.

(۲۰):- که یو سړی باندی د شرعی دیت، او تضمینات شخصیه (شخصی ضامن توب) او بیرته ورکول د مال د غلا، او خرڅونه د محکمی، یو ځای حکم وشی، او موجوده مال د دوه دا ټول پوره نکړی هر کله چه دا ټول حقونه د بند ګانو دی، په قرار د تقسیم سره موجوده مال د دوه د په دغو حقونو کښی سم له حصی د دوی سره بوخی شی.

(۲۱):- خرڅونه د محکمی له هغه سړی څخه چه سزا او فیصله اخلی اخسته کیږی.

(۲۲) هغه شیان چه له جرمه ول، او استعمالول، او له یو ځای نه بل ځای ته وړل، او ساتل،

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 21 of 140



خوشول او آخستل څخه ئې جرم پیدا کیږي
اګر که کونکي پوري دا جرم تعلق نه لري کونکي
ته ئې تعزیر ورکاوه شي.

(۲۳):- هغه کسان چه داسې شان جرمونه ئې کړي وي
چه ننه ئې او باند ئې امنیت د دولت ته خلل رسوي
ورستي له پوره کولو د مدة د هغې جزا
چه شرعًا لپاره د دوی معلومه او مقرره ده
په هغه حال کښې چه د دولت له دوی څخه
خاطرجمعي او ډاډینه نه لري او آینده
له دوی څخه ګمان او وهم د فساد او
د خلل کاوه شي، د کوتوالي تر نظر لاندې
به وي.

(۲٤):- د کوتوالي تر نګرانۍ لاندې د توقیفول عبارة
له دي څو شیانو څخه:-
اول:- نه توقیفول په هغه ځایونو کښې

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 22 of 140



حکومت ورته معلوم کړی دی.

دوهم: هغه ځای چه په هغه کښې استوګنه کوی، یا هغه ځایونه چه تر رسیدلو ځای د استوګنې تر په هغه ځایوباندی تیریږی، د هغو ځایو معلومول، او بیانول.

دریم: په تذکره د تیریدلو د ده کښې په هغه شان چه وویل شوه اشارت کول.

څلورم: په مجرد رسیدلو د ده هغه ځای ته په (٢٤) ساعته کښې له راتلو خپل څخه حکومت ته خبر ورکاول.

پنځم: په هغه حال کښې چه له هغه ځای څخه یو خواته خیال د تللو لری، دری ورځې مخې حکومت ته خبر ورکول، نوی تذکره د تللو او تیریدلو خپل آخستل، هغه ځوک چه د کوتوالی تر نګرانی لاندی

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 23 of 140



وی ، او سره له هغه د دی شرطونو رعایت
ونکړی ، تعزیر کاوه شی .

(۲۵): هغه مامور چه کم له کمه د دوه کلو حکم
د حبس پری وشی ، په دی شرط سره چه
پس له دی د پر هیڅ خدمتونو د دولت کښی
له ده څخه کار وانه خست شی - طرد کاوه شی ، هغه
مامور چه د دولت مال تلف کړی او رشوت واخلی . اکراه که
له دی ملت څخه حکم پری شوی وی ، ابدا بی له خد منته
د دولت څخه طرد کاوه شی .

(۲۶): په منځ د پلینبیدلو د جرم کښی هغه کسان
چه عمر د پنځلس کلنی ئی نه وی پوره کړی ،
نا پوره کمال شی ، اولٰه هغه جرم څخه چه
کړی ئی دی مسئول او جواب ده نه کنهل شی
هر کله چه په سبب د جرم د دوی سره
دیت لازم شی ، عاقله د دوی پوره تعلق نیسی او

دوی خپله مور و پلار، او ولیانو، او وصیانو د
دوی ته سپارل کیږی، هر کله که داسې
شان هلکانو عمر د پنځلس کالوئ پوره کړے نو
په حقوق الله کښې لکه مونځ او روزه، او حقوق
العباد کښې لکه پوره گرفتار او ماخوذ دی، او په
حد د دوی کښې عمر د اتلس کلو ضرور دے
دی، او که جرم کونکی ښځه وی، آخر د عمر د
بلوغ د دوی پنځلس کاله، او اول د بلوغ د دوی
نه کاله دی، لکن ماخوذیت د دوی له پنځلس
کلو شخه دی، او که نورې علامې د رسیدلو
لکه (بلا ریبول او بلا رهیدل) او خوب کښې (شیطانی
غولول) او انزال په خواله هغو کلو سبکاره
شی، بالغ باله شی

(۳۷):- لیونی په مالی خیانت کښې لکه غصب
او قتل، او دیت، او پرهار په هغه صورت

کښې چه غصب، او غلا، کړی شوی مال،
او شرعی دیت له پنځه سوه روپیو څخه ښکته
وی د ده له خپله ماله څخه بیرته ورکاوه شی
او که له هغه نه پوره وی، عاقله پوری تعلق
نیسی، و نه کی، او بیر اهم حکم د لیونی کړے
(۲۸) :- که چیری ثابت شی، چه یو سړی یو جرم چه
بالکل د ده رضا نه وی او بل سړی ئی جبراً په
ویره ولو د وژلو او تلف کول د اندام سره
پری وکړی، دا کونکی د جرم له جزا څخه معاف
پیژانده کیږی، یو اځی په دی باب کښې
هغه مجبوریت چه معتبر دی، نظر و درجو
د جرم ته اول عبارت دی له پیښیدلو د داسی
شان یو کیفیت څخه چه دا سړی له نبی د
تهمت څخه بالکل پاك ښکاره کړی، او
دوهم عبارت دی له ویرانلوی کیدلو د داسی

ټول حقوق د چاپ د بیرته چاپولو او ترجمی ... (۱۵۰۰)

رازي يو ضرورت نه چه دي په مقابل د هغه
کېږي ناتواني د دريدل او ټينګيدلو خپل ثابته کړي
نو بنا پر دا باندي امر د موږ او پلار په اولاد
ياد بادار پر خدمتګار باندي او هغه حالات
چه له تعظيم او عزت ورکولو څخه پيدا کېږي
د غوته مجبوريّت منزويل شي ·

بيان د مجبوريّت د مجبور او قسمونه د معافي
د دوي او بيان د کامله شرطونو، په کتاب د
فتاواي امانيّه کښې به انشاءالله تعالی وليکل شي

(٢٩) په دفع کونکي له شان او له مال خپل څخه چه حمله
کونکي په ضد د ه کښې ورسله لوډنګي واچول شي، په ورځ او
شپه په ښهر او غير له ښهره يو برابر دي،
له جزا څخه معاف ګڼل شي، او که حمله کونکي بي له
وسلې د لوډنګي د غير وژنکي اسباب لکه امثال دي
بهر له ښهره نه، شپه او ورځ به معافي کښې برابر دي

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 27 of 140



او په بنهر کښ ، د ودځی مطلقًا معاف نه دی،
یواځی په شپه کښ معاف دی، هغه کارونه
کښې په هغه داړه ماری او غلا کښ چه له
چلولو جبر او شدت سره وی ، یا په هغه
غلا کښ چه پیدا کونکی د داسی شان یو لوی
ضرر وی ، چه والی او اختیار د یو سړی
ته خلل رسوی ، پیښ شی ، یا هر رازی هغه
کارونه چه لپاره د شړل د غلو او داړه مارانو
شی، یا په هغه حال کښ چه بیوته آخستل
د مال، بی له هغه کارونو ممکن نه وی که
لپاره د فوری دفع د ضرر له ځان ځنه یا لپاره
د ساتنی، او خلاصول او بیوته آخستل د
مال هر رازی کارونه چه د دفع کونکی له خوا
پیښ شی، هم جبعنه بلل شی ·
(۳۰):- غلا کړې شوې مالونه د هر چا په لاس کښ

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 28 of 140



چه وی تری آخستل کیږی ، مګو جزا، غلا کو
ته ورکوله کیږی .

(۳۱):- هغه کسان چه په د له سره غلا وکړی ، که
لد غلا کیږی شوی مال څخه برخه د هر یوه
غلو، په قرار د تقسیم سره نصاب ته رسیدلی
د تهولو لاس د پری کړ شی ، او که نصاب ته
نه رسیدلی تعزیر د کړل شی .

(۳۲):- هغه څوك چه په وړ کولو د بخشش، یا
په ورکولو د نقدو روپیو ، یا په ویره ولو، یا
په کارو د فریب او غولولو ، یا په سپنیدلو د
قوت او اعتبار خپل ، یا په بیځایه چلولو د
حکم د ماموریت خپل سره ، بل چاته په
کولو د جرمونو باندی حرکت ورکړی ، یا
په پلینیدلو د یو جرم باندی خبر شی ، او
لپاره د کیدلو د هغه سرشتی وکړی ، یا وسیلی

او هغه اسباب بونر او واسطې چه سبب وي
لپاره د پېښېدلو د جرم، سره له لیدلو او
پوهېدلو ئې تدارك وکړي یا په داسې شان
کارونو کښې چه سبب وي لپاره د ګڼو ویدلو
یا آسانېدلو، یا کاملېدلو د بل جرم، سره
له پوهېدلو له اصلي کونکي د هغه جرم
سره کومك وکړي، ټول دغسې شان
کسان فرعًا ذي مدخل او شریك د هغه
جرم پېژاندل شي، هغه کسان چه په خلاف
د امنیت د حکومت، یا د امنیت د عمومي
یا امنیت د سړیو او د مالونو لاس غړوي
یا جبر او زور چلوي، یا په کارونو
بنوریدلو د جرم کونکو باندې پوه او
هغوته پخپل اختیار خوراك، او ځای
د خوب او ځای د پناه، او ځای د تولېدلو

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 30 of 140



ورکوی، هم فرعاً ذی مدخل او شریك
شمیول کیږی، هغه کسان داسی
شیان چه په صورت د غصب یا غلا
یا په پیښیدلو د یوجرم سره حاصل کړی وی
تول هغه شیان یا یو قسم له هغو څخه سره
له لیدلو او پوهیدلو ئې، وساتی او پټ کړی
هم په دغو کارونو کښ، ذی مدخل
او شریك پیژاندل شی، نظر و دی ونجا
رتك حالونو ته په حق د هغو کسانو
کښی چه فرعاً ذی مدخل د یوجرم
وی، چه عبارت دی له کوشش کونکی
اوله کومکی، او حرکت ور کونکی څخه،
په جزا د کارونو خپلو، تعزیر او نیول
کیږی، لکن اندازه د درجه د تعزیر
د ذی مدخل له وی له جزا د خانته مستقل

کونکی تخنه:

(۳۳):- قوماندان د کوتوالی، او علاقه داران، او دهغه
ځای حاکمان چه لپاره دلاسته راوستلو دجرم
ابتدائی تحقیقات کوی، البته دی ته محتاج دی
ترڅو هغه دلیلونه چه په نزدد شرع اثبات
دجرم دهغه د قاضی په مخ کښ شی، لاسته
راوړی، اوهغه دلیلونه لاندی لیکل کیږی
اوپه هر دلیل کښ وظیفی د هغو مامورینو
روښانه بیانیږی.

(۳۴):- هر مظنون چه په اثبات د جرم د دوه بایدی
عادلان شاهدان که په اصل جرم یا په اقرار
د مجرم په هغه، وی، یا اقرار دخپله مجرم
موجود وی، اوهغه قوماندان او علاقه داران
او حاکمان په داسه پوه شی، فی الحال دداسی
شان مظنون توقیف کړی، په قرار د قاعدی

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 32 of 140



د هغه مظنون او مدعی سره له شاهدانو
شرعی محکمه مقرر کړی چه قاضی ئی شرعاً
فیصله کړی ، لکن مامورین د حکومتی تر توجه
امکان وی سعی او کوشش دوکړی چه هغه شاهدان
په ظاهر کښ په شرع برابر وی چه شرعاً بیرته
نه شی ، تر څو چه سبب د زحمت و نه ګرځی څکه چه
قاضی بی له اقراره د خپل مجرم یا بی له عادله
شاهدانو په اصل د جرم یا په اقرار د مجرم په هغه
یا بی له مخ ګرځولو د مجرم له قسم څخه ، په حقوق
العباد ، او حدود ، او قصاص کښ یا شی په لیکلو
او مکتوب ، بی له خبرو د کولو څخه شرعاً
حکم نه شی ورکولای .
(٣٥) : هغه مظنون ، چه په ثبوت د جرم په اقرار
د خپله مظنون یا په عادله شاهدانو په قرار د (٣٤)
قاعده لاسته ورنه شی په دی صورت کښ مامورین ته اجازت ورکول دی

سره په دی قرار اجرا کړی چه لاندی بیانیږی :-

## په تعزیرو متهم کښ

(۳۷) :- کم یو سړی په صلاحیت او ښه سړی توب سره مشهور وی ، او په یو جرم سره متهم شی ، او یو کس عادل یا دوه کسه مستور الحال چه ښه او بدئی معلوم نه وی ، په حق د هغه کښ په دی حاضر جرم سره مامورینو ته خبر ورکړی ، هغه سړی نه توقیف کیږی په حضور د قاضی د هغه په حق کښ قسم دی ، او بس مګر یو اشخی په هغه اوبو مشهوره جرمونو چه احتمال د تثبیت لووی ، او یو کس عادل یا دوه کسه مستور الحال د هغه په حق کښ په دی حاضر جرم سره مامورینو ته خبر ورکړی تر وقته د حاضریدلو د قاضی تر توقیف کا وه شی ، او په اقرار د خپله جرم یا په وجود دیدوه کسه د اشاهدانو په اصل د جرم یا په اقرار

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 34 of 140



دمجرم پر جرم په حکم د قاضی حکم پری کاوه شی او کله دوه کسه
عادلان د قاضی په مخکښی په بدی د هغه
شاهدی تیره کړی، تر وقته د بنکاره
کیدلو د حال دده توقیف کیږی.

(۳۷):- کله یو مستور الحال سړی چه نه په نیکی
سره مشهور وی او نه په بدی او فساد
سره پیژاندلی شوی وی، او په یو جرم سره
بگمان پری وکړی، او یو کس عادل یا دوه کسه
مستور الحال په نزد د قاضی په فساد د هغه سره
اخبار ورکړی، په جرم د تهمتی ثبوت تر وقته
د بیچاره کیدلو د حال دده بندی کاوه شی، او
که قاضی حاضر نه وی تر وقته د حاضریدلو د
قاضی نور ماموریں د حکومتی ئی توقیف کاولای

(۳۸):- کله یو مستور الحال سړی چه نه په بنه توب
سره مشهور او نه په فساد سره پیژاندلی شوی

اوپه یو جرم سره مظنون شی، او یو کس عادل
یا دوه کسه مستورالحال په حق د هغه کښ په
تهمتی توب سره اخبار نه وی کړی، په دی صورت
کښ هغه نشانی او علامی چه موجب د غالبه
ګمان د قاضی په قرار د شرع شریفی کیدلای شی
موجوده وی، او په هغه سړی په هغه جرم
سره حکم نه وی شوی، لکن حکم په جرم د
تهمتی توب سره بری شوی دی، په قرار د
همغو نښانو او علامو تر وقته د ښکاره کیدلو
د حال د ده توقیف کاوه شی.

(۳۹)- که یو مفسد سړی په یو جرم سره مظنون شی
چه په سبب د خبر ورکولو د عادلانو، یا په
ډیرو پیښیدلو د جرم د هغه علم د قاضی ورسیږی
لکن داحاضر جرم د ده نه وی ثابت شوی،
په دی صورت کښ علم د قاضی معتبر دی،

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 36 of 140



شاهدانو او ثبوت او دعوی ته حاجت نشته
مفسد مظنون بندی کاوه شی، تر وقته د
ښکاره کیدلو د نیانو د صلاح او توبې چه سلم
قاعدو د دی نظامنامی سره اجرا کیږی

(٤٠):- کوم سړی چه په فساد سره مشهور وی په
یو جرم سره مظنون شی، چه په اخبار د عادلانو
یا په پیرو بینید لو د جرم د هغه علم د قاضی
ورسیږی، لکن دا حاضر جرم د ده نه وی
ثابت شوی، په دی صورت کښ علم د قاضی
معتبر دی، شاهدانو او ثبوت او دعوی ته
حاجت نشته، دغه په فساد سره مشهور مظنون
سړی تعزیر تر وژلو پوری روا دی

(٤١):- په ښکاره کولو د حال د یو مستور الحال مظنون
کښ چه په (٣٨) قاعده کښ بیان دی، په هر
راز سره چه ممکنه دی استنطاق او غیره ول

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 37 of 140



د مظنون ضرور دی ترڅو چه په اقرار دده
باندی شاهدان پیدا شی، یا اقرار او سرغړونه ل
دده له سوګند څخه ښکاره شی، له همسایه او
تعلقاتو څخه د تحقیق د حال او د کاروبار دده
وکړشی، که چیری بلدی د ښکاره شوله په سبب
د خبرو د کولو د شاهدانو یا په سبب د جرم
د تهمتی توب پرینبلدی کولو د هغه د قاضی
حکم وکړی، او که بلدی د هغه ښکاره نه شی
او نه اقرار وکړی، او نه له سوګند څخه سرغړونه
وی پرې د ښوده شی، هر کله چه په اقرار د
مظنون کښی تناقض منده شی، ظاهر او
ښکاره ګمان باله شی، او تعزیر د دروغ ویلو
ورکاوه شی، صورت د تناقض په لیکلو سره
او که ویلو سره وی په حضور د هغه مامور
چه دوه کسه شاهدان پر هغه لیکلو او اقرار د

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 38 of 140



خـــولی چه تناقض تری پیدا شویدی؛
نیولی د قاضی په مخ کښې ئې حاضر کړی صحیح بولو سے

(٤٢):- په حق د هغه سړی کښې چه ګمان د غلا کیږی
شوی که په فساد سره مشهور دی، په حال د
استنطاق او غوږولو کښې که بعضې د پیلونه د ملا متے
دده د استنطاق له مخې ښکاره شی، لپاره د
پوره کولو د سببونو د ثبوت د جرم که فائده مند
ولیده شی، د اسې شان وهل چه اډوکی مات
نکړی یا غوښه ونه شکوی، روادی.

(٤٣):- که په ښهر کښې د یو مظنون د کور پلټنې او علم
آوری ته حاجت شی، قوماندان د کوتوالی
یا علاقه داران یا د هغه ځای حاکمان چه د کوتوالی
کاوونه هم کوی، باید چه له ځان سره دوه کسه
دینداره سړی یا یو نفر مفتی بوزی چه په
حضور د همغو دوه کسو دیندارو یا یو کس مفتی

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 39 of 140



د هغه مظنون کور دکوت شی، بیله بیله بیا
شوی نظامنامه د هغه به هم پس له دی
څخه جوړه او اخپور کیږی.

(۴۴): بنانی او علامی په هغو شرطونو چه په (۳۸)
قاعده کښی بیان شویدی، خاص په هغه
تعزیراتو کښی چه حقوق الله وی دلیل د شرعی
حکم کیدی شی، هر څه په هغه تعزیرونو
کښی چه حق د بنده دی دلیل د شرعی حکم نه شی
کیدلی.

## تعزیر په حقوق الله کښو دنګلم

(۴۵): د وژلو په دعوو کښی که پس له ثبوته ټوله ورثه
یا بعض ورثه عفو یا ابرا یا صلح وکړی، قصاص
چه حق د بندګانو دی ساقطیږی، مګر په صورت د صلح
د بعضو یا ابراء د بعضو کښی برخه د هغی ورثو چه
صلح او عفو او ابرائی نه ده کړی په مال سره

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 40 of 140



بدلیږي ، او په حق الله کښې په دی قرار سره
چه لاندې بیانیږي ، ډغه تعزیر ورکاوه شي :-

الف :- که د وژلو کار په پټه سره وی ، او په حضورت
د شدت او زور او مکابره سره نه وی
او مجرم په فساد سره مشهور نه وی ، او
په ملک کښې امنیت او قرار موجود وے
نو حکومت په قرار د څلورو مرتبو سره ،
بی له وژلو او حبس دوام څخه مجرم تعزیر
کولای شي .

ب :- او که د وژلو کار په طریقه د مکابره یا په ظلم سره وی مجرم
په فساد سره مشهور وې ، او په ملک امنیت وی ، حکومت
په قرار د څلورو مرتبو مجرم تر وژلو پورې تعزیر کولای شي

ج :- که قاتل وژنکی په مکابره او ظلم سره نه وی ، لکن په فساد سره
مشهور وې تر وژلو پورې تعزیر کاوه شي .

د :- که وژل په پټه سره وې او په صورة د شدة او زور او مکابره سره نه وې

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 41 of 140



شوی او مجرم قصد د سرکښئ او یاغی توب کړیوی او په فساد سره مشهور نه دوی او په ملك کښ امنیت نه دے بنا پر مصلحت د وقت تر وژلو پورې ئې تعزیر کولای شی.

## تعزیر د حقوق الله غلا او ناسره ماروله

(٤٦) – الف: که په یو سړی یا په ډیرو سړیو غلا ثابته شی او شرعی حد لازم شی، په قرار دام د شرع شریفی حد جاری کیږی.

او که شرعی حد لازم نه شی مگر غلا ثابته شی، په هغه صورة کښ چه تکرار د غلا و د حکومت له خواتر وژلو پوری تعزیر ورکا

ب: – که یو یا ډیر سړی ناره ماران وی، چه په ښهر کښ یا ښهوله ښهره د اره وکړی که شرعی حد د هغو په حق کښ ثابت شی

اجرا د حد پری کیږی، او په هغه
صورت کښی چه شرعی حد ثابت نه شی، مګر
داپه ماری د دوی ثابته شی، د حکومت
له خوا تر وژلو پوری تعزیر کاوه شی.
که داسی شان ګمراه داره ولیدلو شی چه مال ئی نه و
آخستی او څوک ئی نه وی وژلی، تعزیر د هغه
غیرله وژلو په بندی کولو سره دی تر وقته د
ښکاره کیدلو د علامو د توبی یا تر هغه پوری چه
مړ شی، او که مال ئی آخستی وی، او وژلی ئی
هم کړی وی، سر کرده د ده یا بوله ملګرو د ده
که شرعی حد په دوی باندی لازم شه، اجرا
کیږی، او که شرعی حد لازم نه شه، د
حکومت له خوا تر وژلو پوری تعزیر کاوه شی
(٤٧) هغه شاهدان چه د یو داسی کار چه تعزیر
واجب وی، په حقوق الله کښی په مخ کښی د قاضی

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 43 of 140



مختلفه شاهدی تیره کړی، اګر که هغه جرم په
ځایونو کښی لیدلی شویوی شاهدی ددوے
صحیح دی مثلاً یو عادل پولیس په یو ځای
کښی یو سړی لی په شپه کښی ولیده چه دمو تر
یا دبګی چراغ اوډیوه لی دوبښانه نه وی،
او په بل ځای کښی یوبل عادل پولیس د هغه
سړی کاږے یا موټر بې له بلی ډیوی لیدلی وی،
او دوی دواړه خبر وو کړی او شاهدے
تیاره کړی، هغه مجرم په تعزیری جرم
سره نیوه شی.

(٤٨) په فقره د قتل کښی چه حکم د دیت په
طریقه د قسامت یا قتل د خطا په نفس یا باقی
اندامونو کښی کاوه شی، محصول د فیصله خط
د هغه لکه باقی فیصله خطونو د دعوو د قصاص
او حدود وبرشان وی چه زیاد له شپږو

پوښوونه دې، وانه خستلی شي.

(۴۹) که په یوسړي باندې په قصاص سره حکم شوی، لپاره د قصاص اخستلو ورثه د مقتول ته وسپاره شي، ورثه د مقتول کولای شي شفه چه حکم د قصاص پرې شوی دی خپله په وسلې سره لکه توره یا تیره چاړه یا ټوپک قصاص کړي، یا یوکس یا څو کسه د ځان دپاره وکیل ونسي، چه دوی په وسلې لکه توره یا تیره چاره یا ټوپک وکالتاً قصاص کړي په دې شرط چه پر وقت د قصاص اخستلو کښې خپله ورثه حاضره وي.

(۵۰): یوسړی چه په ده باندې پر واجب التعزیر جرمونه د حقوق الله یووا ری ثابت شي، په موجب د هغه جرم چه لازمونکی د لوئ درنې جزا وي، دده په حق کښې حکم کېږي.

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 45 of 140



# اول باب

## اول فصل

(۵۱) چه افغانستان له د بهرنیو سره متفق کیدل
په خلاف د افغانستان سره وسله آخستل (تعزیر)
(۵۲) یو بیگانه دولت افغانستان ته لمسول او په جنګ
ورو ستل (تعزیر).
(۵۳) په شومولو د دښمن کښې افغانستان ته آسانی راوستل
او لپاره د دی مطلب چه دښمن په آسانی سره
په افغانستان کښې لاره او لاس منده کړی، کلاګانې
او ریلونه او تلګرافونه او ماشینخانې د افغانستان
ورانول، او د دښمن لښکر سره په وسله او په آلاتو
کومک کول، او لښکر د افغانستان ته په نزد دښمن
سره مخې د دښمن ته شوق ورکول یا په کولو د نورو
دغو جنایتو د دښمن سره مخابره او خبرې کول (تعزیر)

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 46 of 140



(٥٤):- د مملکت له لښکری ترتیبات او د دفع کولو او د دښمانانو کیدلوله نقشی، او له انډازی د قوت د لښکرو څخه، لنډه په دی چه یو د لښکری پټو خبرو او د لویو سیاسی اسرارو دښمن ته خبر ورکول (تعزیر).

(٥٥):- لښکر د افغانستان ته په تهیدلو سره د دښمن په لوری شوق ورکول او یاغی کول (تعزیر)

(٥٦):- په بیلول او علیحده کولو دیوه ټوټه مځکو د افغانستان څخه یا بخپله په هغه ځای کښی لپاره د جوړه ولو دیوی مستقلی خانته اداری بیله دائرو د دولت څخه سعی او کوشش کول (تعزیر)

(٥٧):- په مطلب د کوشش په پیدا کولو دیو جنګ په خلاف د افغانستان یو بیګانه دولت ته پناوړل (تعزیر)

(٥٨):- رسمی له اعلان د جنګ څخه یوله تبعه د افغانستان،

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 47 of 140



پہ خدمت د لښکری د دښمن کښی وسیدلی
وروستی له اعلان د جنګ څخه هم په
همغه خدمت د دښمن کښی پاته کیدل
(تعزیر).

(۵۹) تبعه د افغانیه له په خلاف د حکومت په
یاغی توب او سرکښی سره شوق ورکول، او په
همغه د اکار د سرکښی پیښیدل (تعزیر).

(۶۰) بی له پیښیدلو د کار د یاغی توب فقط په پیدا
کولو د سبب د یاغی توب کښی سعی کول (تعزیر).

(۶۱) بیرغ قونه او نښی د افغانستان یا د بیګانه دولتونو
چه دوست د افغانستان وی په پرښت د حقارت
او سپکولو څیری ول (تعزیر).

(۶۲) باستید نکو د افغانستان له یو لوری سره د
جنګ او د ولو شوق ورکول، او په دی مطلب
دوی یو د بل په ضد د وسلو څښتن کول (تعزیر).

(٦٣) هغه جرمونه چه په (٥٩) او (٦٠) او
(٦٢) قاعدی کښی بيان شول که د بعض قولونو
لرځوا وکول شی، مشران او نفری د دوی
نسبتاً (تعزير).
برسيره په دا بانا دی هغه جرمونه چه په
دی قاعده وکښی بيان شويدی، که په دغه
خصوص کښی په منځ د بعض کسانو خلاف
او ويل په منځ کښی راشی، او په بعض اسبابو
سره وسيله وکړه شی، هغه کسان چه په خبرو
او ويلو کښی شامل وی، مشران او باقی
نفری د دوی نسبتاً (تعزير).
او که يواځی خبری او ويل پيښ
شی او په اسبابو سره وسيله ونه
شی، مشران او باقی اعضا نسبتاً
(تعزير).

کە د دوی لە منځ څخە یو کس
تکلیف وکړی، او نورو
کسان تکلیف د هغە
رد کړی، او قبول ئې نکړی
تکلیف کوونکی سزهٔ (تعزیر).
هغه کسان چه پیدا کول، او جوړه ول، او
حاضره ول، او ورکول د وسلی او د هغو
اسبابو نو وکړی، چه یو ضیادی تولنه لپاره
د اجرا کولو د مطلب خیل هغو ته محتاج
وی، که ماده د فساد کولو ته ورسیږی (تعزیر)
او که کولو ته ونه رسیږی، په درجه د تشبث
او توتیه کښی باقی پاته شی نسبتاً (تعزیر).
هر کله چه پر افغانستان کښی سوداګری د وسلو
جاری دی؛ هغه کسان چه په کسب د خرڅولو د وسلی
او په سوداګری د وسلی مشغول دی، کە

پرهغه فساد باندی نه جزنه وی پرهغو باندی
وسله خوځه کړی، له جزا څخه معاف دی.
(٦٤):- هغه کسان چه لښکر د دولت ته، په بلوا او یاغی
کیدلو سره حرکت او شوق ورکوی (تعزیر)
(٦٥):- ماشینخانی، انبارخانی او کل امونه د د دولت
په قصد او نیت سره سول (تعزیر).
(٦٦):- هغه کسان چه په لوټ تولو د نقدی پیسو، او اشیا
د رعیّت او د دولت مشکلی ولوټی سر کړدیکان او
باقی نفری نسبتاً (تعزیر).
(٦٧):- هغه غله چه په غزوا و د نښتو کښی سره له وسلی کړشی
او خلق لوځوی کی سم له حکمه د (فتاوی امانیه) حد
لازمنه شی، پس له تاوان څخه (تعزیر).
(٦٨):- هغه کسان چه په مطلب د وهلو دلاری په غزه
او د نښته کښی سره له وسلی کړشی، او ورپسی له غلا
او لوټولو نیول شی (تعزیر).

(۶۹):- له ښځینتونو د هیشه بل جنتی ځنه هغه کسان چه ړمبی ئی هم یو جرم کړی وی، یا هغه داړه ماران چه د دوی په لاس کښ کوټلی سړی یا نه کوی او په علاوه ئی، یا په داړه ماری او وهلو دلتړه کښ خلق وژنی (تعزیر).

(۷۰):- او کړ داړه ماړانو څوك وژلی نه وی او مال ئی نه دی اخستی یو سړی زخمی کړی، کړ سم له حکمه د (فتاوای امانیه) حد لازم نه شی ورستی له تاوان څخه (تعزیر).

(۷۱):- په کوڅو او میدانو کښ په مطلب د شوق ککول د سړکښی او یاغی توب خلقوته چاپی یا غیر چاپی ضرر ناکه ورقی ښتول، یا په دی مطلب خبری او ویل کول، کړ یاغی توب ښکاره شی (تعزیر) او کړ ښکاره نه شی نسبتاً (تعزیر) او کړ په بل ځای کښ بیام له دوی ځنه داسی شان کار دونه سره و

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 52 of 140



آګوکه د یاغي توب کار ښکاره نه شي (تعزیر).

(٧٢) هغه کسان، داسې شان اخبارونه او بیان نامې چه په مطلب د شوق ورکول د یاغي توب خلقونه لیکلې شوي وي، ښان سره ئې لرې ترڅو سه پورې ئې خواره کړي نه وي (تعزیر).

(٧٣) :- هغه کسان چه په نه اجرا کیدلو د حکمونو او د اینوده شوي، قانونونو یا په نه حاصلیدلو د بدولت دمالونو دد دولت کښې سعی وکړي او له مامورینو د دولت څخه نه وي هم (تعزیر).

(٧٤) یکه یو سړی د چاپه کور کښې په زور، یا په ورولو دیره او داره ولو، یا په پټه سره ننه وځي (تعزیر).

دائرې د پولیس چه د بعض شبهه ناکو کورونو تحقیق او تفتیش وکړي له دې قاعدې څخه وتلې دي.

(٧٥) هغه څوك چه په بخښلو د ثابت شوي قصاص پرورشه د مقتول باندې جبر وکړي، وژنکي او جبر

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 53 of 140



کونکي سړي (تعزیر).

(۷۶)- کډوال د رعیتو څخه داسې راز سببونه سازاو پیدا کړي
چه تیښته د بندیانو آسانه وي (تعزیر)

(۷۷)- هغه کسان چه لپاره د آسانۍ د تیښتې د بندیانو
دوی لره وسله او نوري واسطې پیدا کړي (تعزیر)

(۷۸)- هغه بندیان چه له بندیخانې څخه تیښته وکړي،
او بیا ونیول شي، بر سیره په اصل جزا د هغې مبني کار
د دوی نسبتاً (تعزیر) هم ورکاوه کیږي.

(۷۹)- هغه کسان چه بندیان او تر استنطاق لاندې وي
او تر هوسه پورې شرعي حکم پر دوی باندې نه وي
بهر شوي، په سبب د غفلت د پهره دار سړو
و تېښتی نسبت وتهمت د تېښتیدونکي ته غافل ساتونکي
(تعزیر).

(۸۰)- هغه کسان چه یو تېښتیدونکی بندي، یا د جرم تهمتي
سړی سره له پېژاند لو ساتي (تعزیر) او خپنان

د تښتیدنکی له اصولو او فروعو له قبیلی د پلار

مور، اولاد، او میړه، او ښځه د هغه، کړنی وساتی

له پټه ساتلو د هغه، له جزا څخه معاف دی.

(۸۱):- هغه مُهرچه د دولت د مامورینو له خوا لپاره د

ساتنی د بعض شیانو، یا د ورقو، یا د کُمرخای اینبودلی

شوی وی او څوك ئی مات کړی (تعزیر).

بوسیره په ماتیدلو د مُهر که بعض شیان او ورقی

هم غلا شوی وی، که سم له حکم د (قتاوای امانیه) په

غلا باندی حد لازم نه شی (تعزیر).

(۸۲):- هغه کسان چه رسمی ورقی د دولت غلا یا ئی محواو

تلف کړی (تعزیر).

(۸۳):- که ماتیدل د مهر، او د رسمی ورقو غلا، یا محوا و

تلف کول د هغو، د بعض کسانو له خوا په صورت د

ډله او هجوم، په پهره دار د هغه باندی وشی هر یو

له هجوم کونکو څخه (تعزیر).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 55 of 140



(۸۴):- هغه څوك چه بي له صلاحيت او اجازې څخه ځان داسې شان وښيئ چه ګويا يو ملکي يا نظامي منصب لري، برسيره پر هغه په کولو د هغو وظيفو بانديي چه دا منصب پورې تعلق لري غاړه وکړي (تعزير)

(۸۵):- هغه څوك چه بي له اجازې د دولت څخه په خپل سر د خلقو فيصله د حقونو چه په شان د اصلاح د شريعه نه وي وکړي (تعزير).

(۸۶):- هغه څوك چه هغه غير منقولي مال چه له ده څخه حکماً اخستې شوې وي، او حق څښتن ته سپارلې شوې بيائي ضبط کړي، ضبط کړې شوې مال څښتن ته بيرته ور کاوه شي، برسيره پر هغه ضبط کونکي (تعزير).

(۸۷):- هغه کسان چه د تلغراف او ټيليفون اسبابونه قصداً خراب کړي، برسيره په اخستلو د قيمت د ضرر (تعزير).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 56 of 140



(٨٨):- هغه څوك چه د تیلیفون او تلغراف سیم پرې کړي، یا یې د هغه وغو رځوي چه موجب د معطلی د خبرو شي (تعزیر).

(٨٩):- که دا معامله دېرې کولو او خرابولو د سیمانو د تیلیفون او تلغراف په منځ د جنك او شورش کښې پېښ شي لښتا (تعزیر).

(٩٠):- هغه کسان چه قلبي سکې سازه وي او قلبي چلوي کوي (تعزیر).

(٩١):- هغه کسان چه قلبي پیسي په سبب د نه پو هیدلو ودکول او آخستل کوي، هیڅ لایق د جزا نه کیږي، فقط پس له هغه ځخه چه په قلب پوهیدلو باندې آموخته شي، بیا هم یې چلولو د هغه کوشش وکړي (تعزیر).

(٩٢):- هغه کسان چه تقلیدي شیان لکه هغه وینئي او بنګړي چه د سرو او سپینو زرو

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 57 of 140



او بو سره ځی علت کړی وی، او په شان
د هغه په نوخ د اصل جنس څخه خوی داسی شان
ساخته کاری وکړی ورستی له شرعی تاوان
څخه (تعزیر).
(۹۳):- هغه کسان چه پادشاهی فرمانونه، او
د حکومت مُهرونه، او د دولت د مامورینو
مُهرونه او دستخطونه، هغه ورقی او
اوسنلونه چه په دفترو پوری تعلق لری
په ساخته کی سره جوړ او استعمالوی ئی، که نقصان
د بیت المال یائی د رعیت کړی وی ورستی
له ورکولو د اندازی د نقصان څخه (تعزیر)
هر کله چه له ساختگی فرمان د پادشاهی
څخه دولت ته یو کُلی ضرر ورسیږی نسبتاً
(تعزیر).
هغه کسان چه داسی شان ساختگی ورقی

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 58 of 140



لاس ته راوستلی استعمالوی ئې (تعـزیر).

(۹٤):- هغه کسان چه د ځان یا د نورو د خلاصولو د پاره له خدمت د دولت څخه د طبیبانو په نوم ساختګی شهادتنامه جوړه کړي (تعزیر).

(۹۵):- هداسې رنګه هغه طبیبان او جراحان، یا بنا په رشوت یا بنا په خاطرداری او لحاظ، پاره د خوشی کولو د یو سړی له خدمته د دولت څخه د دروغو شهادتنامه ور کړي (تعزیر).

(۹٦):- هغه کسان چه ساخته ګی سندونه، د خپل مدعی علیه په حق کښ، محکمو د دولت ته ښکاره کړي، ورسره له دې کولو د هغه تاوان څخه چه مدعی علیه ته ضرر رسیدلی وي، نسبتًا (تعزیر).

(۹۷):- هغه کسان چه په سبب د نه پوهیدلو او نه پیژاندلو ساخته ګی شیان استعمالوی (له جزا څخه معاف دي).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 59 of 140



(٩٨):- که یو سړی په قصد او نیت سره د چا کورته اوړ،
واچوی پس له تاوانه د سوی مال څخه (تعزیر)
او که لمبه او لخوړی د اور نورو نژدی کورونو ته
ورسیږی، برسیره په تاوان د سوی مال بانده
(تعزیر)۔
او که هغه اور لوول سبب د وژلو د بنی آدم شی
برسیره په شرعی دیت بانده ی (تعزیر)۔
(٩٩):- د ننه په ښهر کښ یا بهر له ښهر څخه هغه کسان
چه په ډلبندی لو د سولو کښ سعی او کوشش کړی
مګر اوړو نه شی لږ ولای (تعزیر)۔
(١٠٠):- هغه څوك چه یری کړیو شویو لرګیو ته او
ریلی شویو حاصلونو ته لګه د مړ منل او نور
شیانو ته اور واچوی برسیره په هغه تاوان
چه خاوند د مال ته ئی ورکوی (تعزیر)
(١٠١): هر کله هغه سول چه د اور آچونکی لخوا

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 60 of 140



قصداً پیلیږي شي او سبب د مرګ د خلقو شي
پر سیمه پر دو دکولو د دیتونو (تعزیر).

(۱۰۲) یکه یو څوک په یو سړي باندې په او دا چولو
سره حکم او پر ویره ولو د وژلو سره جبر وکړ
اګر که او لیښول پېښ نه شي جبر کوونکی (تعزیر)

(۱۰۳) په افغانستان کښې سازه ول د شراب و استعمال
او داوړل د هغواو د نورو مستکونکو شیانو
بالکل منع دی، مګر چرس او بنګ چه د
افغانستان له حاصلاتو څخه دي، یو اڅی د دنیه
په افغانستان کښې لپاره د استعمال، اخستل،
او خرڅول د هغو منع دي، ولیښتل د هغو بهر
ملکونو ته منع نه دی.

(۱۰۴) یو هغه کسان چه څښتاره شراب سکي (۸۰) دره وهل کیږي.

(۱۰۵) یو هغه کسان چه په پټه سره شراب سکي له نښو او ضربو او له بعضو نورو علامو
او دلیلونو څخه یې ثابته شي چه شراب یې څښلي دي شرعي سزا ده

ثابت شي (۸۰) دُرّې وَهَل کيږي.

(۱۰۶): هغه کسان چه په نورو کسانو شراب څښوي (تعزير).

(۱۰۷): هغه کسان چه شراب جوړه وي، پس له تلف کولو د شرابو د دوی (تعزير).

(۱۰۸): هغه کسان چه له بهرنۍ څخه افغانستان ته شراب راوړي، شراب د دوی د تلف او توئي کړل شي او بخپله دوی (تعزير).

کرږي قاعدې چه په باب د شرابو کښې بيان شوې خاص اهل د اسلام او تبعه د افغانيه ته راجع دي، فقط په حق د تبعه د بيګانه وکښې هغه څوک چه لپاره د سوداګرۍ افغانستان ته شراب راوړي، او پر مسلمان رعيّت د افغانستان باندې ئې خرڅ کړي په موجب د پاس قاعدو سره جزا مومي.

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 62 of 140



(۱۰۹): هغه کسان چه چرس سکوی، او بنګ یا تریاک خوری، که عمر ددوی له پنځلس کلو زیات وی (تعزیر).

(۱۱۰): هغه کسان چه ښکاره یا په پټه سره بازنګر بازی وکړی (تعزیر).

(۱۱۱) هغه کسان چه ښکاره یا په پټه سره بازنګر وکړی (تعزیر).

(۱۱۲): هر کله چه پلار یا اقربا دیو هلک ښچیل مخ کښ هم هغه هلک سره په ګډیدل اکښ مساعد او کومک کوی (تعزیر).

(۱۱۳): لپاره د هر یوله دستی او چمپی د بازنګر څخه (تعزیر)

(۱۱٤): ګډیدل د ښځی نا ریښتینه و په مخ کښ هر یو له نادیه او له ښځو څخه (تعزیر).

(۱۱۵): د وډلو او زخمی کولو په مسئلو کښ لپاره د

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 63 of 140



بیل بیل بیان د حکمونو د قصاص او دیت باید
چه قاضی کتاب د فتاوای امانیه ته
رجوع وکړی .

(۱۱۶): قتل د عمد (په نیت سره وژل) داسی شان
وژل دی، چه په استعمال د وژنکی اسباب
سره قصل آپیښ شی، لکه وسله، او په شان
د وسلی لکه تیره لرګی، او تیره تیږه، او اور.
او قتل د شبه د عمد (هغه وژل چه د نیت
وژلو په رنګ وی) هغه وژل دی چه بی له
وسلی او بی له هغو وژنکی اسبابو قصداً
تلف کول پیښ شوی وی .

(۱۱۷): هر کله چه یو سړی بل سړی په صورت د
عمد سره مړ کړی (قصاص)

(۱۱۸): هر کله چه د عمد وژلو وژنکی معلوم نه وی
او وژلی شوی مړی موجود وی که په ودانی

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 64 of 140



یاد کوټي په مسجد کښې وي، دیت (په استیدنکو دکو
او ودانې باندې دی) او که په جامع مسجد یا په
عامه لاره کښې وي (دیت پر بیت المال باندې دے.
او که په بیابان کښې وي (هدر دی، دیت نشته)

(۱۱۹):- که وژنکي په فعل د قتل عمد سره اقرار ووې، او وژنه
د مقتول ئې وبخښي وژنکي (تعزیر)۔

(۱۲۰): که دوه تنه یو کس له ووژني د مقتول څښتن، هغه قاتل
چه په فعل د قتل عمد سره ئې اقرار کړی دی وبخښي
وروستي له دیت څخه (تعزیر)۔

(۱۲۱): که وژونکي قوم دار او پیسه دار وي له دی جهته
ددې ووژني له خوا وبخښه شي، په هر حال (تعزیر)
او که خاوند د وژلې شوې مړي له وژنکي او وژلے
شوی سره تحیل والی د پلار توب او د مور توب
او دوړه ووځي او د خودی ولري او وژنکي وبخښي
له دی قاعدې څخه وتلي دي۔

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 65 of 140



(۱۲۲):- هر کله چه یو له خاوندانو د همیشه جنایت او
بدبختی څخه لپاره دکولو د یو لوی جرم نو د خلق
په تکمهاری سره شکنجه او علی اب کوی (تعزیر)

(۱۲۳):- که یو سړی په صورت د شبه د عمل سره خوږ کړی
مړ کړی (شرعی دیت په عاقله باندی دی) اوله
نژدی د هغه پلپسی، نور په دری قسط د دری
کلونو سره ۰

(۱۲٤):- هر کله چه شبه د عمل څو څلی شی (تعزیر)

(۱۲۵):- که څوک نژدی او لوی عاقله نه د ی لود لکیر لقیط
(هغه څوک چه مندلی شوی) او لکه امان غوښتونکی
حربی (دیت په بیت المال باندی دی، او په قاتل
باندی (تعزیر).

(۱۲٦):- که وړوکی د وژلی شوی دیت و بخښی، وژونکی
(تعزیر).

(۱۲۷):- ایکه بخښل په حق د یو قوم دا او د و لتمند لیش

(تعزیر) ·

(۱۲۸): هغه څوك چه جسد د يو وژلي شوي سړي
پټ کړي (تعزير) يابي له خبر ورکولو حکومت ته
خبر ئې کړي (تعزير) ·

(۱۲۹): هر کله چه يو سړي بل سړي وهي يا ئې ورکړي
ولږ وي، او دا وهل يا زخمي کول سبب ډېر بېګيدلو
او ماتيدلو او د لويدلو له کاره د يو له اندامونو
د ده نخښه شي، بر سيره په شرعي ديت باندې
پرهر کونکي په صورت د عمل سره (تعزير)·
او بي له عمل نخښه چه خطا دي (ديت پر عاقله
باندي) ·

(۱۳۰): - هغه سړي چه بل سړي ئې وهلي يا ئې
پرهر کړي وي، او سبب د بېرته پاته کيدلو
د هغه د کار نخښه شي، که سم له حکمونو
د (فتاوى امانيه) سره قصاص يا ديت لازم

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 67 of 140



نه وی، پس له ورکولو د تاوانه دیرهر (تعزیر)

(۱۳۱): هغه کسان چه یو له بل سره پکړو، او لښکو او متکو

خپل ځنځو وهی پرهرکړی (تعزیر)

او که سبب د لویدو له انداموځنځ شی

برسیره په شرعی دیت او قصاص بانلدی

(تعزیر).

(۱۳۲): هغه څوک چه په نیت د وژلو استعمال د وسلی

وکړی (تعزیر).

(۱۳۳): هغه څوک چه په خطا سره سبب د تلف

کیدلو د یو سړی شی پس له شرعی دیت

څخه (تعزیر).

(۱۳۴): هرکله چه یو سړی په خطا سره بل سړی زخمی

کړی، پس له ورکولو د شرعی دیت څخه کیفیت

د پرهر له نه ږغا کولو د نظامنامو ځنی واغلی دی

(تعزیر).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 68 of 140



(۱۳۵):- هر کله چه یو سړی په حکم د یو جابر آمر
یو سړی په جبر او په زور سره مړ کړی، یائې
ووهی او زخمی ئې کړی، او مجبوریت د
هغه په قرار د (۲۸) مادی سره ثابت شی
(جزا د وژنکي او وهونکي او زخمی کونکي په حق د
حکم کونکي د ده کښي اجرا کیږی).

(۱۳۶):- هغه څوك چه پخپل کور کښي بیګانه سړی
له خپل حرم سره په خلوت کښي ووینی او مړی
کړی (له جزا څخه معاف کانه شی)

(۱۳۷):- هغه کسان چه خپل پلرونه، او نکونه او میندې
مړه کړی که په قرار د فتاوی امانیه سره قصاص
لازم نه شی (تعزیر).

(۱۳۸):- هغه څوك چه امان غوښتنکی سړی مړ کړی
(تعــزیر).

(۱۳۹):- کیه بعضی له ورثه څخه معاون او کومك د

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 69 of 140



قتل د هغه چاوی چه د هغه میراث ده ته
رسیږی اوعفو وکړی بی له برخی د عفوکونکی
ورثی څخه دیت له ماله د قاتل څخه آخستی،
باقی ورثه د مقتول ته دورکړشی، هرکله
چه په عفو د هغه سره قصاص ساقطیږی
قاتل (تعزیر).

(۱۴۰):- که په اقرار د قاتل عمد بانل ی، مامورین د
دولت چه رسماً په ابتدائیه تحقیقاتو سره
مامور او مؤظف دی، په شرعیه محکمی کښ
شاهدان ولی، او په قرار د شرعی سره ثبوت
ته ورسیږی، او ورستی له حکمه د قاضی
څخه ورثه د مقتول عفو وکړی، مجرم بانل ی
په مجازات د (۱۱۹) قاعدی سره حکم
کاوه شی.

(۱۴۱):- یسابی او قادیانی، او زندیق د قتل کولشی

او هغه غل چه تکراراً غلا وکړی (تعزیراً دمے کړ شی)
خفه کونکی به بیا تکراراً خفه کولو سره چه ځوک ئی
وثلی ی (واړه شي).

(۱٤۲): هغه ځوك چه د دیره ولو خط د وژلو وا سنخه دے
په دی مضمون سره چه په صورت د نه ځای (صلیه)
د مطلبونو خپل به هغه مراو ورك کړی (تعزیر)

(۱٤۳): هغه کسان چه په وژلو سره تهمتی وی، که
پرمی له حکم کیدلو به دوی باندی په پټه سره
وارثان د وژلیو شویو، نقدی پیسی یا په جنسی
معلوم مال باندی رضا کړی، او ورثه هغه ته
په شرعی محکمه کښ قسم ورنکړی، او کار نښانه دے
د دوی ثابته شي، په وژلو سره تهمتی سړی
ورسنی له علمه د قاضی څخه (تعزیر).

او که پرمی له ورتللو حکومت او قضا
ته له جهته د پایمالولو صلح وکړی او حکو (مرتبه)

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 71 of 140



خبر و ونکړی، هرکله چه د وژلو د پېښو خبر
ورکول حکومت ته لازمی دی بنا په دغه
سره ورته د وژلی شوی سړی هم (تعزیر)
کیږی.

(۱۴۴): هغه ښځه چه په کولو د خاصو واسطو، یا
د بل چا له خوا ښځه په کولو د هغه سره رضا
ورکړی سبب د آچولو د بچی چل شی.
برسیره په شرعی تاوان باندی چه عبارت
دی له (غره) ښځه چه نیمائی د لسمی برخی
د دیت عاقله ده دی (تعزیر).

(۱۴۵): هغه ښځه چه په رضا د یوی بلی ښځی
تدارك د خاصو واسطو وکړی، بی له رضا
د میړه د هغی ښځه بچی د هغی وغرځوی، برسیره
په هغه شرعی تاوان باندی (تعزیر)

(۱۴۶): هرکله که په دی منځ کښی بلاربه ښځه

مړه شي او چې دهغې لوېدلې وي، برسېره پر
شرعي تاوان باندې چه عاقله د بلاربې تر رسېدو
هغې ښځې لره چه واسطه شوي دي (تعزير)
(١٤٧) په هغه صورت کښې چه بې له رضا د ښځې نخه خاصې
واسطې وکړلې شي يا څه کارونه لکه وهل او
زخمي کول سبب د لوېدلو دېچې شي، کونکي برسېره
په شرعي تاوان باندې چه پر عاقله د زخمي کونکي
او وهونکي باندې راځي (تعزير).
(١٤٨) يکه په منځ د داسې شان غورځولو د بچې کښې، ښځه
مړه شي او بچې مړ ولوېږي، د بچې تاوان او ديت د
ښځې دواړه، د کونکي د دغه کار په غاړه دي،
او که بچې ژوندی وي، وروسته له زوکېدلو
مړ شي کامل ديت، د کونکي په غاړه دي،
(او په دواړو صورتونو کښې تعزير مومي).
(١٤٩) هر کله چه داسې شان جرمونه کم طبيب

یادائی ئی اجرا کړی، برسیره په هغی سزا
چه په پنځه کونو قاعدو کښې معلوم دی په حکم
د هری قاعدی کښې چه داخل دی، پس لی ئی
تاوان شخه پرعاقله دبنځی باندی (تعزیر په نا
طبیب او دائی باندی).

(۱۵۰): هرڅوك چه له یو هلك سره بد كار د لواطت
وکړی (تر دوه ژلو پوری تعزیر).

(۱۵۱): که د مفعول عمر له لسو کلو څخه کم وی،
(له جزا څخنی معاف دی) او که د مفعول عمر
له پنځلس کلو زیاد وی، او په جبر او زور
سره دغه بد کار د ده په حق کښې اجرا
شی (له جزا څخه معاف دی).

(۱۵۲):- که د مفعول عمر له پنځلس کلو څخنی زیاد
وی، په خپله رضا او رغبت سره ئی، دغه بد کار
ترو ورکړی وی (تر دوه ژلو پوری تعزیر).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 74 of 140



(۱۵۳): یکه څوك پیاره د بچه بازی ورکی وساتی (تعـزیر)
او پخپلو ورکی باندی هم په صورت د رضا کښ
(په همدغه تعزیر سره حکم کیږی) .

(۱۵٤): هغه څوك چه په بدکاری سره تهمتی وی که یو
پخپلو هلك په زور سره وتښتوی (تعزیر)
او که یو سړی چه ښه او یدلی ښکاره نه وی،
په زور یا په غولولو سړه ئی وتښتوی، په هرحال
سره نسبتاً (تعـزیر).

(۱۵۵): هر کله هغه محصن سړی (چه نکاح ئی کړی وی)
له هغی غیر محصنې سره (چه نکاح ئی نه وی کړی)
کار د زنا وکړی [دغه زنا کونکی نارینه سنګسار دی
او دغه زناکاره ښځه سل دره ی].

(۱۵٦): هر کله چه محصن نارینه له محصنې ښځې سره د دواړو
رضا بل کار د زنا وکړی (نارینه او ښځه دواړه
زناکاران سنګسار).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 75 of 140



(۱۵۷) یکه یو غیر محصن نارینه له یوی داسی ښځی سره چه میړه ئی لښکری او د دښمن پر ضد جنګ کښی وی زنا وکړی (دغه زناکار نارینه سل دُرّی، بر سیره پر هغو تعزیر او دغه زناکاره ښځه سنګساره).

(۱۵۸) یکه څوک یوه مېړه‌ښنه ښځه چه میړه ئی په سفر او که په کاله وی، او که د لښکری یا د غیر لښکری عورتینه وی په قسم د زور یا چَل او حیله سره وتښتوی (تعزیر).

په صورت د جبر او چَل کښی دا مېړه‌ښنه ښځه (له جزا ښځه معاف دی) او په صورت د رضاکښی په هغی جزا سره ګرفتاریږی.

(۱۵۹) یکه څوک یوه کنډه ښځه یا پیغله په زور او چل سره وتښتوی (تعزیر)

(۱۶۰) یکه غیر محصن سړے له محصنی ښځی سره زنا وکړے (دا زناکار نارینه سل دُرّے او دغه زناکاره ښځه سنګسار).

(۱۶۱) هرکله چه غیر محصن سړے له یو غیری محصنی ښځی سره زنا وکړی (نارینه او ښځه هر یو سل دُری)

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 76 of 140



(۱۶۲)- که په یو اه دُوَاړو خواګه په کول د زنا سره زور او جبر شوی وی، هغه چه جبر پری شوی دی له جزا څخه معاف کانه شی جبر کونکی (تعزیر).

(۱۶۳)- هغه ښځه چه لیونی سره زنا وکړی (تعزیر).

(۱۶٤)- هغه ښځه چه میړه ئی غائب وی او پخپله وُرکه شوے په زنا سره اقرار او نسبت د کوم یو منکر سړی ته وکړے که پخپله د دی په رضا سره پینه شوی دی (تعزیر)

(۱۶۵)- تِښتَوُل د مِیړه دِښی ښځی په صورت د اقرار د ښځی کښ چه پخپله رضا سره تللی وی یا په قطعی قرینو سره ثابت شی نسبتاً (تعزیر).

(۱۶۶)- په مسئله د زنا کښ که شرعی حد په شبهه سره ساقط شی (تعزیر).

(۱۶۷)- هغه څوک چه په یوه صدمه سره غیرله زناځنی اِنجلے توب د اِنجلَی زائل کړی برسیره په مهر مثل بایندی (تعزیر).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 77 of 140



(١٦٨) هغه سړی چه له پردی ښځی سره بی له زنا اولوا[طة]
نور وانډ امور نود هغی ته لاس غزه‌ول یا سوکول وکړی
په هغه صورت کښ چه نارینه جبر وکړی، بواځی
نارینه او په صورة د رضا د ښځی او نارینه کښ دواړو (تعزیر)

(١٦٩) هغه ښځی چه په همیشه والی د بدکاری سره مشهوره
شویوی (تعزیر).

(١٧٠) هغه شاهدان چه په زنا سره ئی شاهدی کولی وه
په وقت د سنګساریدو د زناکار کښ مرۀ یا بی له
، علاوه غائب شویوی له هغه ځخه چه حکم د
سنګساریدو پری شویدی حد ساقطیږی:
(تعزیر او تشهیر کیږی.

که رجمی له تیریدلو د یوی میاشتی ځخه هغه
شاهدان حاضر شول هغه چه حکم پری
شویدئی (سنګساریدو) او که وروستی له یوی میاشتی ځخه حاضر شو
(حد ساقطیږی او هغه تعزیرا جراکیږی).

(١٧١) هغه کسان چه په جزائیه معاملو باندی ناحقه
شاهدی ګوَلِی (تشهیراو رسوا کول).

(١٧٢) هغه کسان چه په حقوقیه مسئلو کښی ناحقه شاهدی
وکړی یاناحقه قسم وخوری، په صورت د پیرته
ګرزیدلو د شاهد او له شاهدی څخه
برسیره په ورکولو د تاوان د هغی اندازی نقصان
چه خاوند د حق ته رسیدلی دی (تشهیراو تعزیر)
په صورت د نه ګرزیدلو د شاهد او کښی (یواځی تشهیر)

(١٧٣) هغه کسان چه یو سړی په عوض د بل سړی کښی
چه حقیقت کښی هغه سړی حاضر نه وی،
محکمی ته راوستلی، لپاره د فائده خپل په فریب
سره له اقراره د غائب سړی، څخه شرعی سند
حاصل کړی، همداسی بعض سړی په دغه پیښه
کښی تصدیق وکړی، هر کله کښی څه منفعت حاصل
کړیوی هغه سړی ته چه ضرر رسیدلی بیرته

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 79 of 140



ورکاوه شي، فريب ورکوونکی سړی (تعزير)
او تصديق کوونکي سړي د دروغو د شاهدانو
جزا ويني، او که يې فائده حاصل کړې نه وي
فريب ورکوونکي او تصديق کوونکي د هغې معاملې
ټول جزا شاهدانو د دروغو ويني .

(۱۷۴): په هغه حال کښې چه يو وارث په نر پليښيله
د قتل باندې ګوه، په يو سړي باندې په سېلا
کولو د دروغو شاهدانو سره دعوی د قتل
وکړي، او باطل والی د دعوی دده په صورة
د ثبوت د مقتول سره ثابت شي، دا مدعي
وارث (تعزير)

(۱۷۵): هر څوک چه قوّه د اجرائيّه يا د عدليّه تريا
يو مامورته چه واسطه د رسولو د کيفيت
دي په واسطه د دي دوه قوتو اخبارنامه يا شکايت نامه
وکړي، يو سړي ته چه بې ګناهي د هغه ثابته

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 80 of 140



کښی، یاالپاره د غرض یو ماموړته دیوی ګناه
نسبت وکړی، یا په مخالفت د هغه سړی کښی
پخپله مادیه دلیلونه جوړ کړی او دا نسبت ګړ
شوی جرمونه دده په خلاف سره ظاهر شی
مفتری نسبتاً (تعزیر).

(۱۷۶)؛- که یو سړی بل سړی ته قذف وکړی یعنی
نسبت د زنا وروته وکړی، قذف کونکی سړی له
مخصوص فصل د (فتاوی امانیه) سره (۲۸۰ اتبادد) اے
واهه ... (کیږی).

(۱۷۷) بهرڅوک چه په خلاف د بل چا په معلومولو
دیو خاص جرم یا په بیانولو د یوی خاصی مادے
چه جرم تری جوړیږی، خلقو ته حقارت یا
خصومت ورانلدی کړی، یا چاته په داسی شان
نسبتونو سره چه سبب د ماتولو د ناموس او
اعتبار د هغه وی بد وبیل وکړی (تعزیر).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 81 of 140



(۱۷۸): لپاره ددې خبرې چه هغه بد ویل ده لازم دی
د جزا وی، شرط د تثبیت لو د هغه یوله دی
صورتو څخه دی چه لاندی ښودلی
شوی دی:-

اول:- پرمخ د متجاوز علیه په یو داسی مجلس کښې
یا یو ځای کښې چه نور سړی ئې اوریدلی
شی په ښکاره سره وی.

دویم:- باید په غائب والي د متجاوز علیه کښې
لاکن یو څو کسه سړیو سره یو ځای سره
تول شوی، یا بیل بیل په اختلاط کړی لو
احسواشی.

دریم:- باید په صورت د نوم او لیکلو د لائحې
د عبرت چه په عامو خلقو خور او اشتهار
کیږی، یا په بعض خلقو باندی ویشلی
شوی وی، یا پرانیستی خط چه په بغیله متجاوز علیه

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 82 of 140



ته لیږلی شوی وی، یا په واسطه د پوستې
سره لیږلی شوی وی.
څاورم باید چه هر راز اخبارو او یومیه موقتې
رسالو او هر قسم چهاپی پاڼو او دخپور
کیدلو واسطو سره لیږل شی.
(۱۷۹): هرکله چه په خلاف د هغه سړی چه په بد ویلو
سره تجاوز وربانډی شوی دی، په سبب د
هغې مادې چه د بد ویلو لپاره اینبودلی شوېکی
تر هغه کمی لاندی نیولی بشوی، قانونی تحقیقات
اجرا شی او ثابته شی، چه دا بد وینکی سړی سره
له پوهیدلو په بیګناهی د هغه سړی چه بد
ویل ئې د هغه په حق کښی کړیدی، لښتونه ور
کوی، دا بد ویل او کنځلی په افترا سره بدلیږی
او سم له همغې قاعدې چه د افترا لپاره دی حکم
ورکاوه شی، هرکله هغه سړی چه بد ویلو

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 83 of 140



او د ګنهګارو جرم ئې کړی دی، لپاره د پاکي خپل
ثابتول د صحت یا د شهرت د هغه کار چه
متجاوز علیه ته ئې نسبت کړی دی وغواړي
د ادعوی دده نه قبولیږی.

(۱۸۰): هر څوک چه بې له معلومولو دیکي خاصي مادې
نه بو بل صورت سره په ناموس یا شهرت یا
حیثیت د بو بل سړی یا نړی کونکی د فعل د
قلح شي (تعــزیر).

جرم د قلح هم په هغو څلور ګونو صورتونو
چه لپاره د شتم او بد ویلو بیان شول لازم دی چه
پېښ شی، که قلح کونکی ثابتول د هغو شیانو
چه نسبت ئې کړی دی وغواړی، نه اوریدل کیږي.

(۱۸۱): هر کله چه د غلو په منځ کښې بو کس یا زیادله هغه
څخه وسله دار وی په منځ د شپې کښې د یوې
کوټی دیوال یا هغه دکان چه په هغه کښې

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 84 of 140



یو سړی وی سوری کړی، یائې قفل مات کړی
یا خپل ځان د دولت د مامورینو په شان وښیئی
یا یوه ساختګی حکمنامه چه له یو مامور د دولت
ځخه ئې اخستی وی ښکاره ئې کړی او د نه شوی
او په هغه ځای کښی په زور او زیاتی سره غلا وکړی
که سم له حکم د (فتاوی امانیه) حد لازم نه شی،
پس له شرعی تاوان ځنی هر یوله غلو ځخه (تعزیر)
(۱۸۲):- هر کله چه دوه کسه یا زیاد په هغه کوم یو کوټه کښی
ننوزی، او په اجراد معاملی د زور او زیاتی سره غلا
وکړی، که سم له حکم د (فتاوی امانیه) حد لازم
نه شی، هر یوله غلو ځخه (تعزیر).
که په منځ د زور او زیاتی کښی یو سړی زخمی کړی
که سم له حکمه د (فتاوی امانیه) سره حد او قصاص
لازم نه شی پس له شرعی تاوان ځخه (تعزیر)
(۱۸۳):- که په یو کور کښی چه په هغه کور کښی څوک نه

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 85 of 140



وګسپړي، په هغه صورت سره چه په پاس دوه تا (عدد)
کښې بیان شه، ښوتلي غلا و کړي، که سم له (فتاوی امانیه)
سره حد لازمنه شي، پس له شرعي تاوان څخه (تعزیر)

(۱۸۴): که په شپه کښې یو څو کسه سره یوځای شي په عامه
لاره کښې غلا وکړي، که سم له (فتاوی امانیه) سره
حد لازمنه شي برسیره په تاوان د غلا کړي شوي
مال باندې (تر ووژلو پوري تعزیر).

(۱۸۵): هغه کسان چه بې له هغو څو صورتونو چه په پاس
قاعده وکښې بیان شول په یو بل شان سره غلا وکړي
عموماً که سم له (فتاوی امانیه) سره حد لازمنه (شي)
پس له تاوان د ماله څخه (تعزیر)

(۱۸۶): هر کله چه کاردیوانان او کراهه کښان هغه شیان
چه باره وي ئې، او له یوځای څخه ئې بل ځای ته ئې
وړي خیانت ئې وکړي، پس له شرعي تاوان څخه (تعزیر)

(۱۸۷): هو هغه څوک چه آس او نور د سپرلي او د باره (لو)

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 86 of 140



او د ګاډي چارپايان او لکه غوايي او غوا او نور
چارپايان غلا کړي، که سم له (فتاوی امانیه) سره حل
لازم نه شي پس له شرعي تاوان څخه (تعزير).

(۱۸۸): هر څوك چه د دهقاني اسبابونه او هغه خس چه
د خرخولو له پاره ئې تول کړي او راوړي وي،
او د آبادي لرګي او خانګي چوکات، بېلې او نا ږېلي
کښېنتونه، غلا کړي، که سم له (فتاوی امانیه) سره
حل لازم نه شي، پس له تاوانه (تعزير).

(۱۸۹): هر څوك چه یوه کلي جوړه کړي، یا یو شاني
اسباب سازکړي چه قفل پرې خلاصیږي (تعزير)

(۱۹۰): هغه غله چه د یو سړي کور ته لپاره د غلا
ورشي او په ورکوډ مال ئې لاس بر نه شي او پر
هم پېښ نه شي، وسله دار او غیر وسله دار د دوی
نسبت (تعزير).

(۱۹۱): هغه کسان چه په غلا او داړه ماری او په لوټمارۍ

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 87 of 140



سړه ئې شهرت منډلی وی چه سبب د خلق دامنیت
او د آرامی د عامو خلقو شی، باید چه ښه مناسب سړی
او روشناس د هغه ځای د محکمه د ابتدائیه د هغه
ځای ته ودغلی صورت د واقعی د سجل شرعی کړی د هغه
ځای حاکم هغه معلومات چه د دوی په حق کښ لري
هم ډی ولیکی، او شرعیه محکمی د هغه ځای ته د وسپاری
دا معلومات پس له عمله د قاضی څخه په حقوق الله کښ
مدار د حکم د شرعی کیږی :-

اول :- برسیره په هغه نائب الحکومګان او اعلی او کوچني
حاکمان وقت پر وقت په نزد ضرورة کښ پر ځای
د حکومتیو متعلقه خیل یو نفر سړی مامور چه
اصل وی، په صفت د قضا سره یواځی یا دوه کسه
نور په شان د اعضاله دغه یو کس سره د ضمیمه
له مخی مقرره ولی شی، چه هغه ځای ته ورغلی هغه
فسادپیشه نفری سجل کړی په اول صورة کښ د

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 88 of 140



هغه ښځای د قاضی له خوا او په دوهم صورت
کښ د موقتی قاضی له طرفه د هغه ښځای مجلس
د تعین د جزائیه سپارل کیږی چه په قرار
دلاندی مرتبو سره جزا معلومه کړی
الف:- که شهرت د غلا او دا ړه؛ او لوټ مار
همیشه پلپسی وی.
ب:- که همیشه پلپسی نه وی.
ج:- که محل ود او کم وی.
په هر درې واړو پاس صورتونو کښ
په مناسبت د درجو سره به جزا معلومه
دوهم:- هر کله چه په یو ښځای دیوه علاقه داری یا حکومتي
کښ یو سړی یا ډیر و سړیو په تکرار سره خو
غلا یا داړه ماری یا لاره وهل کړی یا فساد
پیشه او په فساد سره مشهور سړی موجود
وی، د هغه ښځای علاقه داران یا حاکمان

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 89 of 140



په نیولو او لاسته راوستلو د داسې شان
سړیو کښې مناسب قانوني مشکلې لرَه وُل او
گونښښ نه وي کړي، او له دوی ځني
لوړ حاکمان یا اعلیٰ یا هغه نائب الحکومګان
چه ورپورې تړلي دي، هغه سړي دستګیر
کړي یا د بل ولایت حاکمان او اعلی
حاکم یا نائب الحکومه خبر شي - معرفي
او پېژاندنه دِ دوی وکړي یا پر نورو
واسطو سره د مرکزي حکومت تر تښکادم
شي، نو هر کله چه علاقه داران او
د هغه ځای حاکمان پر ساتنه د دې
مسئلې پر حال د وظیفې خپلې کښې منحیږې
یائې چشم پوشي کړي. دی په سبب
د غفلت دوی له ماموریّت څخه طرد او
شړل کیږي.

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 90 of 140



(۱۹۲): هغه کسان چه په سکولو د غلاءو او داړه ماری
او نورو جرمونو معلوم دي ره ځای ته حکم د بد لولو
د مېنې پرې شوی دی او چې له حکمه له هغه
ځای څخه هغې حکومتي ته چه تری شړلی شوی د
یا نورو حکومتیو او علاقو د افغانستان تر لاړ شي (تعزیر)
که دوهم وار دی په هغه ځای کښې منشأ
د فساد او داړه ماری شي (تر دولو پورې) (تعزیر)
(۱۹۳): هغه سړی چه اَدیرې ته ورغلي د مړي
کفن وکاږي (تعزیر).
(۱۹۴): هرڅوك چه په زور سره د یو سړي له لاسه
نقدي حجت او سند د پوره والي پس له اخستلو
د سند او حجت چه خاوند ته ئی وسپاري (تعزیر).
کمه غله غلا کړي شي سومال ټمی له حکم د قاضي څخه خاوند ته مال
وسپاره حد ته لازمیږي (تعزیر).
(۲۰۱) ماده د دې نظامنامې د فصل له ره شامل او نیوکی د:

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 91 of 140



(۱۹۵): هغه څوك چه د دولت مالونه نقد یا جنس غلاکړي
هرکله چه حد نه لازمیږي نسبتاً (تعزیر) او په شان
د هغه مال له غله څخه اخستی خزانه د بیت المال کښ
دتحویل شی، که مامور وي له ماموریته طرح)
(۱۹۶): که کوم څوك د هغه جرم چه په (۱۹۵) قاعده کښ بیان
شه د دولت نوکرنه وي سره له هغه همیه
موجب د هغې قاعدی مجرمینو انډل شي (تعزیر
کول شی).
(۱۹۷): که چا یو څوك هلك په بوشی سره راضي او قانع
کړي د هغه له لاسه په حیله او چل سره سند د پور یعني
حجت یا کمه ورقه د ابرأ خط او د قرار داد او عهد نامه
بیاري او اقرار خط واخلي او هلك ته زیان رسیدلی
وي تاوان د هغه په ورکوي، بوسیره په هغه (تعزیر)
(۱۹۸): که څوك په یو مهر داره یا دستخط داره سپین
کاغذ باندي چه د هغه امانت ورکړه شوی

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 92 of 140



امانت داری خپل کښ خیانت وکړی د مهر او د
داد
دستخط د خاوند په نوم هسی شان خبری چه قرار
یا ابرأ لره نیونکی دی - یا خپله په هغه باندی پوسنګ
ولیکی چه په شان سره خپل خاوند د دستخط ته
یامال د ده ته زیان ورسوی، پس له شرعی تاوان تخنه (تعزیر)

(۱۹۹): هغه څوک چه په صورت د امانت او وکالت سره
سنګ وته او د مال و نود رقمی ، شیان او نور نقود چه ته
سپارلی شوی وی ، خاوند ته ئې بیرته ورنکړی پټ
یا ئې ضایع کړی ورستی له ورکولو د تاوانه (تعزیر)

(۲۰۰): هغه کسان چه قمار او جوارئ کړی کوی هر یو له آزرد جوړ
خنی (تعزیر).

(۲۰۱): هغه کسان چه په کوډاو د کانو نو خپلو کښ په پټه سره
جوار کوډاولی او له هغو تخنه حق د نعل آخلی (تعزیر)

(۲۰۲): هغه څوک چه د سپړلی او د بارګیری چارپایان ای
ول
د کاری آس او نور چارپایان په قصل سره تلف او

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 93 of 140



زیان کړي، پس له شرعي تاوان څخه (تعزیر).

(٣٠٣): هغه څوک چه عامي لاري، یا چینه، یا پول، یا آسیاو
د اوبو، یا هغه آبادي سره څنګه د ده ملکیت نه وي
په اختیار سره ئې ونړوي او وران ئې کړي
پس له شرعي تاوانه (تعزیر).

(٣٠٤): هغه څوک چه ئې له یو رسمي دست آوېزه او
ئې له یو شرعي حجته چه حق د ده ثابت کړي،
بغیر ئې له حکمه د شریعت څخه غیر منقولې
مالونه چه په عهده او تصرف د بل سړي کښې
وي، مداخله په کښې وکړي، پس له بېرته ورکولو
د ضبط کړي شوي شي (تعزیر).

(٣٠٥): هغه څوک چه نهالونه د باغ یا قیمتدار او میوه دار
نهالونه څخه اوتلف کړي، یا په مطلب د وړاندو لو په
هغو کښې چارپایان خوشي کړي، برسیره په شرعي
تاوان باندې (تعزیر).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 94 of 140



(۲۰۶): هغه طبیبان او جراحان او عطاران چه په بد نیتی او قصد سره د نخوړته داسی وژونکی دواوی ورکړی، چه سبب د مرګ د د نخور شی (تعزیر).

(۲۰۷): هر کله داسی شان یوه وژونکی دوا چه په بد نیتی سره ورکړی شوی وی، هرشه چه سبب د مرګ د نخور نه وی شوی، سبب د سختیا د نخوری او د مرض شی، طبیب او عطار او جراح لپاره د دی چه پس له دی څخه په هیڅ ځای کښی اجراء د کسب و نه شی کولای شهادتنامه د دوی ضبط به شی او (تعزیر)

(۲۰۸): هغه طبیبان یا جراحان او عطاران چه ناپوه وی، سهواً مریض ته وژونکی دوا ورکړی یا په هر حال په کار د معالجت خپل و کښی غفلت او بی پروائی وکړی، داسهوا او بی پروائی سبب د مرګ د مریض شی، لپاره د دی خبری چه پس له دی په هیڅ ځای کښی اجراء د کسب و نه شی کولای شهادتنامه د دوی ضبط او د دوی (تعزیر).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 95 of 140



(۲۰۹) بلکه له دی بی پروائی ځنی مریض مړ نه شی بلکه سبب د سختی د مرض د ده شی (تعزیر).

(۲۱۰) په داکترانو او یونانی طبیبانو چه له مدیریت مستقلهٔ طبیهٔ څخه اجازه نامه د معالجی نه لری، په ښهر کښی د کابل استید نکوته د و اوړ کوی، که له معالجی د دوی ځنی هیڅ ضرر د هم ونه رسیږی، هرکله چه له طبیه اداری څخه اعلان شوی دی چه هیڅ طبیب د بی له شهادة نامی د مدیریت طبیه څخه علاج نه کوی بنا پر هغه دی مخالفت باندی (تعزیر).

(۲۱۱) په صورت د نه حاصلیدلو د خرڅونو د محکمی له خاوند د سجل ځنی، په مرکزو کښی په موجب د تحقیقات د کوتوالیو، او په حکومتیو کښی په موجب د تحقیقات د حاکمانو د هغه ځای چه بی جایداد د خاوند د سجل ثابته کړی، له محکمی څخه وړیا بی بدله فیصله خط ورکاوه کیږی

(۲۱۲) هغه کسان چه په تهمت د جرمونو توقیف شي او په عدلیه محکموکښ اصل فعل د جرم په دوی ثابت شي د رخې د مدة د بندی توب ددوی له ابتدا د توقیف څخه حساب دی.

(۲۱۳) هغه چاچه د رخې د بندی توب پوره کړیوی یا په سبب د یو تهمت سره توقیف شو یوی، په و د خوشی کیدو لو ضامن د رخې نه اخسته کیږي.

(۲۱۴) هغه کسان چه نکاح کړي ښځه د چا چه میړه ئې مسافر وي، په فریب سره ئې بل ستړي ته نکاح ورکړي (تعزیر) او ښځه د اصلي میړه ته بیرته ورکړه شي.

(۲۱۵) په شکل او خرې یلوکښ د نارینه د سرو ښتنه یا وزیره په زور او جبر سره په قدر د شلورې یا یا اضافه له هغې (تعزیر) او که د ښځې د سر ویښته په قدر د شلورې یا اضافه له دی په جبر او زور سره و شکول یا ئې وخریې، بیرته تا (تعزیر) په شکول

اوخوږي يا ړوند وليښتو د ناوينه او هغه کښي په صورت
د زور سره چه کړم له خاوندې شي وي هم (تعزير)

(۲۱۶) هغه سړی چه مور یا پلار دده له ضرر او بد ګڼلو داني
د دوی څخه محکمو ته شکايت وکړي (تعزير).

(۲۱۷) هغه ښځه چه بې له شرعي عذر څخه او بې له اذنه
د ميړه شي د بيګانه خلقو کور ته لاړه شي (تعزير)

(۲۱۸) بيا پاره د هغه سړي [چې ته هغه جرم تړلو، پس له عفو څخه
په دې نظامنامه کښي حکم د تعزير شويدی] مجبور به
وکړي که د مدعي له خوا عفو وشي، او هغه جرم خپله
په اقرار د مجرم سره ثابت شوی وي تعزير نه ساقطيږي
په هر حال سره هغه تعزير چه خاص هغه جرم لپاره
په دې نظامنامه کښي بيان شويدی د هغه په حق
کښي اجرا کيدی.

(۲۱۹) سود خور (تعزير) او سود ورکونکی که اړ او مجبور
نه وي هم (تعزير).

(۲۲۰) که یو څوک مکلّف عاقل او بالغ سړی په یو ناروا جرم باندې
ګرفتار ووینی، کوننکی د دغه کار دیه فاعل مثل
نصیحتونو سره منع کړی، او که منع نه شی د هغه ځای
حاکم او قاضی ته د خبر ور کړی.

(۲۲۱) هغه کسان چه خپل ځان په صفت د مخبری او د پوځی
توب د دولت سره خلقو ته ورښیئی، یا په دی صفت
سره خپل ځان مشهور کوی او په دی وسیلې
سبب د ډیره ولو د استید نکو کیږی (تعزیر)

(۲۲۲) هغه کسان چه لپاره د جوړه ولو د کانړو د
دولت سکې او به کوی (تعزیر).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 99 of 140



## دوهم فصل

(۲۲۳):- پریوسړی (پټه خبره) له اسراره د سیاسیه اولښکری
باندې پر قرار د ماموریت خپل سره چه خبر شی او بې
اجازی هغه سر دښمن ته ښکاره کړی (تعزیر)
(۲۲٤):- قاضیان او ټول هغه مامورین چه رسمی وظیفې
او خپل متونه ئې په غاړه اخستی دی او غړه کړه
شوی اعضا مقرره د کوردونو رسمیه مجلسونه
او هغه کسان چه له خلقو څخه لکه حکم او اهل
د خبره وی په یو د رسمیه وظیفه سره مکلف دی،
او وکیلان د دعوی له جهته د نه کولو د یو شی چه
شرعا په کولو د هغه سره مجبور دی یا لپاره د کولو
د یو شی چه شرعا په کولو د هغه سره مجبور نه دی
پیسه یا هغه شیان چه په نوم د پیشکشی او
سوغات سره واخلی، یا نوری نفعې چه په د

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 100 of 140



صورت سره ئې لپاره دخان برابره وي، او
ډیر زیاد فرق چه په مابین دبشتیانی قیمت
او نوم کړی شوی پیسی د هغو مالونو او ملکو
چه په هغه ی مطلب ئې یالږ یا ډیر خرڅول
او آخستل وشی، آخستل کیږی رشوت ے

(۲۲۵): یو مامور چه لپاره دیاطلولو دیو حق رشوت
داخلی هغه رشوت چه ئې آخستی دی له
ځنه رشوت ورکونکی ته بیرته ورکاوه شی
او که رشوت ورکونکی حاضر نه وی د دولت
په خزانی کښی تحویلیږی، او رشوت خستونکی (۴۱)

(۲۲۶): که رشوت یو شی لپاره د دو علے دکولو یا نه کولو
دکم کار آخستی شوی وی باطل والی د حق ے و
شوی، رشوت ورکښی بیرته آخسته کیږی
برسیره په هغه (تعزیر).

(۲۲۷) رشوت ورکونکی په دواړو صورتونو کښی

نسبتاً (تعزیر).

(۲۲۸): که یو سړی لپاره د ساتنې د خان، او مال
او عزت خپل حاصل داچه لپاره د ساتنې
دیو ړوا منفعت خپل په رشوت ورکولو
سره مجبور شي، رشوت ئې چه ورکړیدلی
بېرته پخپله ده ته ورکاوه شي، بیا ئې
رشوت اخستنکي جزا وینی.

(۲۲۹): هغه ماموران چه د دولت مال نقد یا
جنس په ساخته کاري سره خیانت کړي
دغه سړي ته د (تعزیر ورکړ شي)، او خیانت
کړې شوي مال ورځنې بیرته اخستی او له
ماموریت څخه طرد).

(۲۳۰): هغه ماموران چه په وقت د خرڅول او
اخستل د شیانو په حساب د دولت، په
معنا فسلود خرڅول او اخستل د هغوکښې لاس

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 102 of 140



وَهِي، پُخپُلَه له هغه شخي غائده یُوسِيَ (تعزیر)

(۲۳۱): کُه یوله مامورینو د دولت شخه، د یوسړي
حق چه له دولت ئي اخلی تنول پوره ور نکړي
یو قسم د هغه پخپله واخلی (په مثل د هغې پیسي
چه آخستی ئې دی بیرته ور ځنې آخسته کیږي
خاوند د حق ته سپارلِه کیږي برسیره
په هغه تعزیر) او که په واسطه د یو
بل سړي ئې دا جرم کړي وِي (خپله مامور
سره له کونکي د جرم (تعزیر)

(۲۳۲): که یوله مامورینو د دولت شخه مزدوري
د هغو کاریگرو چه لپاره د کار د دولت
مزدُوُر نیولَی شوِي لږ وړکړي یائي هیڅ ور نکړي
خپله ئې واخلی هغه پیسه ئې چه آخستی
له ده شخي آخسته کیږي، په عوض د
مزدورِي د کاریگرو کښ کاریگرو ته

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 103 of 140



ورکاوله کیږي، برسیره په هغه (تعزیر)
(۲۳۳): که یو له ماموراتو د دولت څخه زیادو الی د
وارداتو د بیت المال ته نقصان ورسوی کهٔ
خپله ځان ته آخستی وی له خپله ګرځنی بیرته
آخسته کیږي، او کهٔ ئې چه بل ته ئې
پرېښي وي له هغه سړي څخه حاصل کړي
په خزانه د بیت المال کښي تحویل کړي،
په هر حال سره هغه مامور (تعزیراً وله ماموریته
طرد کیږي).
(۲۳۴) هر کله چه یو له ماموراتو د دولت څخه لپاره
د خپلی نفع او فائدی په نیته یا مشکاره خپله
ځان ته یا په شریکي سره په آخستلو د بعض
هغو اسبابو نو چه وزارت یا ادا وی د دهٔ تر
ضرور وی، د دولت له خوا په هغه خصوص
کښي حکم ورکړي شوئیوی، یا په آخستلو د بعض

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 104 of 140



شیانو کښې چه د دولت په حساب اخستل کیږی ، یا په خرڅولو د بعض شیانو کښې چه د دولت له لوری ده ته سپارل کیږی شریکی کیږی (له ماموریت څخه طرد او تعزیر)

(۲۳۵) وکړه په خرڅولو او اخستلو د دی مالونو کښې مزدوری د دلالی واخلی (له ماموریت څخه طرد)

(۲۳۶) هغه ماموریں چه د ښځان لپاره یا د نورو لپاره بردا شت د سرکاری پیسی کوی (له ماموریت څخه طرد او تعزیر)

(۲۳۷) دخل کول د مامور په صورت د جبر او تحکم سره په حق د مدعی یا مدعی علیه بنا په یو مطلب او ساتنه په مخ د شرعیه محکمو د عدلیه او اداره کښې (طرد)

(۲۳۸) کړه په نتیجه د جبر او تحکم کښې له محکمی څخه

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 105 of 140



په ناحقه يو حکم بهرشي (دخل کوونکي او
حکم کوونکي مامور تعزير).

(۲۳۹): قاضيان د محکمو او اعضا د مجلسونو د مشورې
پر سپاره په نه کولو د امضا او د ستخط په هغه
ملاحظه چه پيدا پيښ شوي دي، بايد چه د دې احوال
دولت ته خبر هم ورکړي، او که نه چه بيا له
دغو دوه کارو څخه ئې پرېښي وه (له ماموريت
څخه معزوليږي).

(۲۴۰): رئيسان د مجلس يا قاضيان د محکمو چه د جبر
او خاطر غوښتلو له مخې، چپ له شريعته ئې اجرا
د معاملې کړې وي، رئيسان او اعضا د دوى
نسبتاً (تعزير او طرد له مامورېته)

(۲۴۱): يکې بوله مامورانو څخه ليپاره د نه اجرا کيدلو
له حکمونو د نظامنامو د دولت يا ليپاره د نه
حاصليدلو د مالونو د دولت سعي (صرفوني)

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 106 of 140



کوی (تعزیر)٠

(۴۳م) هرکله چه حکم وزیر، یا نائب الحکومه
یا اعلیٰ حاکم یا حاکم او علاقه دار
او مستوفی، او سررشته دار او قاضی او
مامور د مالیٔ، او ملبران د تجارت او
د زراعت او د ګمرک د ننه په ځای
د ماموریت خپل کښی سوداګری د
اخستلو او د خرڅولو د رزقو خپل لاس
کښی نیولی خپله ئی اجرا کړی،
داسی شان سړی چه سوداګری
پېښه وی او که ښکاره (له ماموریت
څخه طرد کیږی، او فقط په هغه ځای
کښی چه دی چه له ځانه ملکونه،
او ځمکی ولری، سوداګری د محصولونو
خپلو ئی له دی قاعدی څخه وتلی دی)٠

(۲۴۳): هر کله هغه مامور چه بې له معقول عذر
څخه هغه فرمانونه او حکمنامې چه د دولت
حکم د اجرو ګرځولی کړی شوی او اجرو ئې
نکړي (له ماموریته طرد) .

(۲۴۴): هر کله یو مامور چه بې له مقبول سببه
په کولو د وظیفې خپلې کښې غفلت او
سستي وکړي یا یو حکم چه د ده د اجرا
له خوا سم له حکمه د شریعت او سیاست
سره وړ کړی شوی وي اجرائی نکړي ،
که له دې نه اجرا کولو څخه دولت
ته ضرر ورسیږي، نظر و درجې د ضرر ته
پس له آخستلو د شرعي تاوان څخه (تعزیر)
او که له هغه څخه سیاست د دولت
ته یو ضرر ورسیږي هم (تعزیر) که
له هغه څخه لپاره د یو له رعیتو څخه ضرر رسیدلی

ورسيږي که بوسياره په (تعزيرباتو) تاوان د هغه
ضرر هم ترې اخسته کيږي.

(۲۴۵): ماتحت مامورين هر کله چه زيات په اختيارات
خپل د آمرانو په وظيفو باندې زغرد وکړي
او له دې مخالفت کولو ددوی څخه څه ضرر
ورسيږي (تعزير) او که دولت ته يو ضرر
ورسيږي نظر درجې د ضرر وته ليس له يا د
او که سياست د دولت ته ضرر ورسيږي
نظر د مرتبو د ضرر ته نسبتاً (تعزير)
او که له هغه څخه لپاره د يوله رعيتو څخه
ضرر ورسيږي، بوسياره په تاوان د مال
باندې نظر و مرتبو د ضرر ته نسبتاً (تعزير)

(۲۴۶): هر کله چه يوله مامورينو څخه لپاره
د اقرار کولو په جرم بريو مظنون يا متهم
سړي باندې په عمل ابول او شکنجه کولو دده

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 109 of 140



حکم وکړي، یائې په ځان سره خپله اجرا کړي
(له ماموریت څخه پاره دهیشه طرد او بېرته اشتغال
درتبې اونشان اوبرسېره په هغه تعزیر).
اوکه هغه سړی چه اشکنجه شوی دی، له
زغملو د اشکنجې څخه مړشي هغه څوک چه حکم د
اشکنجه کولو د هغه ئې ورکړېدی
جزا د وژنکي چه دیت دی په عاقله دده باندی،
وینې ئې، په دی شرط سره که مجبوریت د هغه
مامور چه حکم پرې کړئ دی، ثابت شي، او که مجبور
نه وی دیت په عاقله د اشکنجه کوونکي مامور
باندی لازمیږی.
(۲۴۷) یکه یوله مامورینو څخه په حق دیو بندی له تعمیمه
دهغې منزا څخه چه شریعت او سیاست معلومې کړې
دی بشه پورته او څوړا درنه د هغو اجرا کړي
یا اجرا کول د هغه بل چاته وفرمائیئ (تعزیر)

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 110 of 140



(٢٤٨) هر کله چه یو مامور څوک له هغه شان څخه
چه شریعت هغه ښودلی دی په کور کښې د یو
رعیتو څخه بې له اجازې د خاوند د کور ده ننوځي
(تعزیر) او که هم په کور کښې ننوځي او هم
په خپل خواهش سره اجرا د پلټلو او تفتیش ته
وراندې څخه نسبتاً (تعزیر).

(٢٤٩) هر کله چه یو له مامورینو څخه مال او ملکیت د
یو له رعیتو جبراً په بیع سره واخلي یائې په یوه بې
ملتي سره ضبط کړي یائې خرڅ کړي، هغه
مال او ملک چه آخستي شوي دي بېرته ئې خاوند ته
عیناً هغه په صورت د وجود د مال کښې، یا بدل
د هغه په صورت د اتلاف کولو کښې ورکاوه
کیږي، خپله مامور (طرد او تعزیر).

(٢٥٠) کله چه یو له مامورینو د دولت څخه له رعیتو څخه زیاتی
له محصول د دولته یو شئ اضافه آخستل وکړي

په خپله کښې کښ ئې دَاچوی (برسیره په پوینه
ویکول د هغې اندازې چه اَخستې ئې دی (تغریم)

(۲۵۱) هغه مالونه چه په پوله کمرګو کښ محصول شوي
او له هغه ځای څخه بل ځای ته لامَشي او د بل ځای
د کمرک مدیرئې دوه یم ځلي محصول واخلي د هغه
کمرک مدیر (تعزیر).

(۲۵۲) که د کمرک مامورینو په ذلیل اوبی له محصول
کولو د مال د سودا کوي سند ورکړی وی
او ثبوت ته ورسیږي، هغه مامور د کمرک
سوداګر (تعزیر)

(۲۵۳): هرکله چه یو مامور یا یو مشر او سرکرده
د استیل نکوغیر له هغو کارونو چه په موجب
د کومی نظامنامی یا فرمان د پادشاهی شرعاً
حکم شوی وی رعیتونه بیګار وړښې له دوی
څخه کار واخلي حق د مزدوری د کار دیکرو دیګا

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 112 of 140



له هغه څني آخستي او کاریګروته ورکاوله کیږي او (تعزیر)

(۲۵٤): هرڅوک له چه د دولت له مامورانو څخه یا سپاهي
د دوی یا د نظامي او کوتوالي منصبدارانو او
سپاهیان د رعیتو او استیدنکو په کور کښ ننوته
شوي بې له رضا په جبر او زور سره خوراک د چرګې
یا د آسو لپاره وښې او واښه او نور شیان واخلي
[قیمت د هغو شیانو ئې چه آخستي او خوړلي ئې
دي بېرته ترې آخستي او خاوند ته ئې ورکاول کیږي
بوسیره په هغه تعزیر].
که اردود نظامي په منځ د کوچ کښ له یو ځای څخه بل
ځای ته داسې شان حرکت وکړي، قیمت د هغو
شیانو چه آخستي شوي دي په شان د تاوان له منصبدار
د فوج څني چه له دوی سره په دې جرم کښ شریک
دي آخسته کیږي، او خپله منصبدار اپړ دیوان
حرب کښ ترمحاکمې لاندې راشي، او سپاهیان

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 113 of 140



همکه بې له اجازې د منصبدار ه ئې دا کار کړی وي حکم د تعزیر پری کیږی

(۲۵۵): هغه کسان چه نوله مامورینو یا د نظامی او کوتوالی او پولیس له سپاهیان او منصبدار او انو ځخه په منځ د کولو د وظیفې خپلې یا لپاره د هغې وظیفې د دوی چه کوی ئې ، دوهم ئې او زخمی ئې کړی یا جبر او شدت وکړی یا وسلګړی وګابړی برسیره په هغې جزا چه په سبب د وهل او زخمی کولو سره لازم شویدی (تعزیر).

(۲۵۶): هر کله چه د نظامی او پولیس له سپاهی او منصبدار ځخه چه په ساتنه د یو بندی سره مامور وی ، په سبب د غفلت او بې پروائی د دوی بندی وتښتی نظر و درجو د غفلت او بې پروائی د دوی ته نسبتًا (تعزیر).

او که هغه بندی په قصد سره وتښتوی : هر کله

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 114 of 140



چه بندی باندی حکم د وژلو شوی وی (تعزیر)،
او هر کله چه تر هغو سه پوری حکم پری نه وی
شوی، او دده په حق کښی د محکمی حکم
نه وی بهر شوی، او په قصد سره هغه وتښتوی
نسبتاً (تعزیر)،

(۲۵۷) هغه مهر چه لپاره د ساتنی د بعض شیانو یا د دفترو
یا د کم ځای د دولت د مامورینو له خوا لګیدلی
شوی وی، هر کله چه هغه مهر په سبب د
غفلت او بی خبری د هغه چا چه په ساتنه د هغه
سره مامور دی مات شوی وی، هغه مامور چه
غفلت ئی کړیدی (تعزیر).
او که خپله هغه مامور چه لپاره د ساتنه
د هغه مهر مقرر شویدی، بی له اجازی ئی مات
کړی (تعزیر).
بو سیره د ماتیدو د مهر هر کله چه بعض شیان

اودرتی هم غلا شوی وی که سم له (فتاوی امانیّه)
سره، په غله باندی حد لا نه رنه شی (تعزیر).

(۲۵۸): هغه مامورین چه رسمی ورقی د دولت غلا ئی
محوا و تلف کړی (تعزیر)

(۲۵۹): هر کله چه مامور د پوستی رسمی او خصوصی
خطونه چه پوسته خانی د ده نه سپارل کیږی
هغه پرانځی یائی په پرانستلو کښی کومک وکړی (تعزیر)

(۲۶۰): هر کله چه یو له مامورینو څخه یا په منځ د خطونو د علامو
او فیصله نفکرونو او د سند ونو او د نورو سجل خطونو د
دفترو کښی چه په منځ د کولو د وظیفی خپل
کښی ئی ورلیکی، یا په تغیر کولو د خط او مُهر او امضا یا
په صورت د لیکلو د نوم د یو سړی په عوض د بل سړی
کښی تحریفات وکړی داسی شان ساخته کاری
وکړی (تعزیر).

(۲۶۱): هر کله چه یو مامور په منځ د کولو د وظیفی خپلی کښی

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 116 of 140



په وقت د لیکلو د رسمي د رقو چه جوړه وي ئې یوشئ
چه یو سړی نه وي ویلي په قسم د ویلو د ده سره ،
یوشه چه ویلي ئې وي په عکس د هغه لیکلي دا راز ساخته
کاري وکړي (تعزیر).

(٢٦٢):- رئیسان د مجلس او قاضیان د محکمي چه په ساخته
ورقو او پاس قاعده باندي پوه شي او اجرائي کړي (تعزیر)

(٢٦٣) بلکه یو مامور هغه جرمونه وکړي چه د اول باب په اول
فصل کښي ښکاره شوي دي او د ده له مامور یته ځني
ولیدل شي، اګر که په دوهم فصل د اول باب کښي نه وي
داخلي محکمي د شورای دولت او مجلسونه د مشورې
د محرمانه عینا برابر له هغو معاملو سره چه په اول فصل
د اول باب کښي بیان شوي دي حکم د تعزیر کولای شي

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r 



# دوهم باب (۲)

## اول فصل

### (الف)

(۲۶۴):- هغه څوک یونښان چه د دولت له خوا ده ته ورکړے شوی نه وی، دې څخه وی یا رسمی جامه لوړه له رتبې خپلی واغندی، یا یې هغه حال کښی چه هیڅ مرتبه نه لری رسمی جامه په ځان کړی نو هر کله چه د استعمالو د هغه ئی له هغو کسانو چه اجازه ورکړه شوی دی برقه نشته (تعزیر).

(۲۶۵):- هغه کسان چه د ګمرک په ادارو کښی ساختګی او د دروغو بیان نامی او بیځکونه ښکاره کړی (تعزیر)

(۲۶۶):- که یو څوک یو سړی ووهي او زخمی ئی کړی او دغه وهل او پرهر سبب د له کار څخه غرځولو د نه شی او سم له حکمو د (فتاوی امانیه) سره

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 118 of 140



دیت یا قصاص لازمرنه شی، پس له اِرش او تاوان
دپرهٔ هر څخه (تعزیر).

(۲۶۷):- هغه څوک چه محض لپاره وِیرهٔ وَل او ناوره دلو
وَسله وکارِی (تعزیر).

(۲۶۸):- کړیو سړی چه په بد کاری سره تهمتی وی، یو یی مخی
هَلِك په زور سره وتِښتَوِی یائی په فریب او غولو
باندی بوزی (تعزیر).

اوکه یو سړی چه ښځه او بدلی بنکاره نه وی
په صورت د فریب او غولونه سره نی وتِښتوی
په هر حال نِښتار تعزیر.

پَی مُخی ویهکی په صورت د رضاکښی په هغی سزا
سره چه په تِښتَونکِی باندی حکم شوید ی حکم
پری کیږی، اوکه یو داسی شان څنی ویهکی
وتښتوی چه د بد کاری کمان پری نه کاوه شی
خاص تښتونکی (تعزیر).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 119 of 140



(۲۶۹): هر کله چه بی له قدح او ذم ځنې يو سمي پر خلاف
د بل سمي په يو خاص اشارت سره اجراد حقارت
او سپکوالي وکړي ، حقارت کونکی (تعزير) .

(۲۷۰): هغه څوك چه د بل چا اسبابونه د ګټې او د
بوا کسب اسبابونه مات کړي يائې خراب
کړي ، پس له شرعي تاوانه (تعزير) .

(۲۷۱): هغه څوك چه نهالونه او کښتونه چه تر هوسه
لا پوره نه وي مهسيل لي پري او تلف ئې کړي
يا په مطلب د خرابولو په هغو کښې چارپايان خوشي
کړي ، پس له شرعي تاوان څخه (تعزير) .

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 120 of 140



# اوّل فصل

## (ب)

(۲۷۲):- هغه کسان چه اوّله، له دوی څخه هغه دُرُواغ خبرونه چه داخلی سیاست د مملکت پوری تعلق لری اِخپُوُرشی (تعزیر).

(۲۷۳):- هغه کسان داسی شیٔ چه حکومت اعلان کړی نه وی، حکومت ته ئی نسبت وکړی، د اَستِیدُنکو په منځ کښ یِیُټ او اِخپُور کړی (تعزیر).

(۲۷۴):- هغه کسان چه په وقت د لانزم والی وزارتو او دائرو د دولت ته راوستل کیږی، که قریه دار یا د هغه ځای سرکرده او یا مامور تصدیق د نِشتوالی یا د نخوړی تیاد هغه سړی کوی دروغ ښکاره شی، دُرُواغجن تصدیق کونکی (تعزیر).

(۲۷۵):- طبیبان او جرّاحان او عطّاران او دائی ګانی که

هغه شخصی پټ راز و نه چه په مناسبت د کسب
د دوی و دوی ته سپارل کیږی، غیر له هغو
حالونو چه قانوناً پر خبر ورکولو د هغو سره
مجبور دی، تیت او اِخپور نی کړی (تعزیر).

(۲۷۶) مدعی او مدعی علیه سره چه په عدلیه محکمو
یا په ادارو د دولت کښ په منځ کښ د محاکمې او
تحقیقات یو و بل ته کنځلی وکړي، له عدلیه
محکمو څخه په موجب د حکم د قاضیانو د هغه
ځای په کوتوالی کښ، او په نورو دائرو د
دولت کښ له طرفه د آمر د همغې دایرې
چه واک د اجرا کولو د تعزیر لری، د کنځلی
کونکو په حق کښ (تعزیر) اجرا کیږی.

(۲۷۷) غلا کول د هغو مالونو، که شرعی نصاب چه دوه
قرانه دی پوره نه کړی (تعزیر).

(۲۷۸) کراهه کشان او هغه کسان چه په غولونه سره

بیعانه آخلی او له عهله د پوره ڪولو د کار څخه
وتلی نه شی، پس له بیته آخستلو د وجه د بیعانی
ځنی (تعـزیر) .

(۲۷۹) په هغه څوک چه خندق او هغه جړونه چه د بل سړی
له مځکی څخه چاپیر کنوولی شوی وی ډک او خاکیرن کړ
یا هغه احاطی چه له بارو او پښتو او له اوزغیو او له
خسو چاپیر له کښت زارو جوړ شوی وی ورانی
کړی (تعـزیر) پس له تاوانه

(۲۸۰) په لارو او سړکو کښی چارو کړی شوی، خاوړی او
گندگی او نور هغه شیان چه سبب د بد بوئی وی آچول
او په بی پروائی په چابانډی چارو کړی شوی خاوړی
او خیرنی او بهوتویول او په وقت د ضرورت په سړکو
کښ بعض چوغالی کنودل د شپی له مخی په هغه بانډی
فانوس او ډیوه نه ایښودل (تعـزیر) .

(۲۸۱) مخ ننه په ښهر او په کلیو کښی په هغو ځایو کښی چه

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 123 of 140



احتمال د ضرر وي پيتاقي اخول منع دي لېځونكى د هغه (تعزير).

(۲۸۲): ځېنې په ښهر كښې بې له ضروره توپك ويشتل منع دي ويشتونكى د هغه (تعزير).

مطلب له توپك ويشتلو څخه په ښهر كښې نقط هغه ځايونه د ښهر دي چه د هغه ځاى د كوتوالى د قوماندانانو له خوا ښوول شوي دي.

(۲۸۳): په هغه ځاى كښې چه خلق سره ټول وي، په دا سبب سره چه د هغه د ضرر دي واستېدنكو ته، زغلول د آس منع دي زغلونكى د هغه (تعزير).

(۲۸٤): هغه څوك چه سكه د دولت په ښكاره قيمت د هغه سره نه اخلي (تعزير).

(۲۸۵): په قصد سره كور يا حويلي د بل چا كښې خاوره اوتېره يا ناپاكي اچول يا هغه ځاى كښې چه ننوتل په هغه كښې منع دي، ننوتل او هغه ځاى څخه چه تېريدل

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 124 of 140



له هغه څخه منع دی تیریدل (تعزیر).

(۲۸۶): په داسی درجه سره چه سبب د برهمولو د استیدنکو د راحت شی، بی سیپه شوروماشور کول او چیغی وهل (تعزیر)

(۲۸۷): هغه اعلانونه چه د حکومت په حکم سره نښلولی او ځړولی شوی وی شکول او خیرهٔ ول (تعزیر).

(۲۸۸): هغه کسان چه د خوراک او نورو شیان له بشکاره مروج نرخ څخه بی بنګته او کم خرڅ کړی (تعزیر)

(۲۸۹): که څوک هغه ځایونه چه لپاره د نفع د عامو خلقو له قسمه د عامی لاری او میدانونه جوړ او تخصیص شوی یا هم اسی پاته وی ویلن او خراب ئی کړی یا لړوی دا او ساره د هغه څخه یوه اندازه د ځان لپاره غلا کړی، هغه ځائی چه خراب کړی دی بخپله به ده باندی آبادیږی، او هغه ځای ئی چه غلا کړی دی له ده څخه بیرته اخستل کیږی.

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 125 of 140



پس له هغه (تعزیر)

(۲۹۰): هغه کسان چه دیوالونه د مسجد وا او د جوامع او
دائرو او د سړکو او دیوالونه د سرکاری عمارتو او خصوصی
ابادیو، په اشکرو او سیاهی او په نورو شیانو خیرن تو
او خط پری کاږی، یا هغه ونې چه د حکومت له
خوا په سړکو باندی اینبودلی شوی یا هغه کلانی اونه
چه په ښار او ښاد سړکو کښی جوړ شوی دی خراب کړی
او کلان ئی پری کړی (تعزیر) -

(۲۹۱): هغه کسان چه په شپه کښی د موټرو او ګاډو
او بایسکل ډیوې ئی نه وی روښانه کړی (تعزیر)

(۲۹۲): غیر له پُلی په منځ د تلو او راتللو کښی په سړک کومه
کښی لاس ته نه زي ښی لاس ته زي (تعزیر)

(۲۹۳): قیل د نابوده او چیچي او طعنه، او د شخند
سپیکو خبرو چه غیر له قذف تحنی وی (تعزیر)

(۲۹۴): په جنګ اچول د مرغانو او چارپایانو (تعزیر)

(٢٩٥):- د ښار په ښهر کښې الوځول د کفترو او آلوځول د کاغذ
پران او بی له عذره په بام باندی ختل چه له هغه
څخه همسایه ته ضرر رسیږی (تعزیر).

(٢٩٦):- سپکی جګړې او بازاری ګفتګوی نه چه وړخ په
وړخ پېښیږی په هغه صورت کښې چه بوله
دوارو خواځخه دائره د پولیس ته عرض وکړی (تعزیر).

(٢٩٧):- په بازار کښې لیازه د خرڅولو زبهه ول د ژوندی
ځرکت له پېښی ځنه (تعزیر).

(٢٩٨):- د رقل داس په بازار کښې چه نخله په بودکان
باندی ناست جلو د هغه ئی نیولی وی هر کله
چه د هم د ضرر دی و بل ته منع دی بنا پر
داسې د رونکی ته (تعزیر).

(٢٩٩):- په چارپائی یا په یوه ګاډی له اندازی د
طاقت څخه اضافه بار وړونکی (تعزیر).

(٣٠٠):- استنجا په لاس په سرکوبی باکه کوزیلی (تعزیر)

(۳۰۱):- هغه کسان چه لکه مسجد د نه او زیارتونه اوپښتان د هغو مبارکي ښاني یا آبادي او عمارتونه چه له هغو لوا وسنگارو د بلد یه ځنځر وي ودان او اودخته داوئ کړي، یاهغه ونې او نهالونه چه په لارو اوسمرکو او کوڅو، یاپه میدانی د مسجد وکښو وې پرې ئې کړي، پس له ورکولو د شرعي تاوان په اندازه د خمر دسره (تعزیر).

(۲۰۳): چلم بردار د بازار او قصه خوان او اسپندي، او رمل انداز او فال بین د مسلمانانو دهغو دانو او هغه ساده وان چه د استقبال نکو په دروازو گرزي، موقوف دي، که پس له دي څني داپاس کاروبنه چاوکړه (تعزیر).

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 128 of 140



## دوهم فصل

(٣٠٣) :- یکس تر هغو پورې رشوت ورکړی شوی او اخیستې
شوی نه دی، او یواځې لپاره د اخستل او ورکول د هغه
یو ګفتګو او ځینې خبرې په لیکلو سره شوې وي
او رشوت ته ورسیږي، رشوت ورکونکی او اخستونکی (تعزیر)

(٣٠٤) :- هر کله یو مامور په هغه صورت کښې چه تکلیف
د رشوت ورته وشي، او د هغه قبول نکړي او دوستي
لردی دولت ته خبر ورکړي بخپله دی شکاره د اعلیحضرت
له حضوره سره له یوې تحسین نامې یوې مهربانۍ کیږي
او رشوت ورکونکی (تعزیر).

(٣٠٥) :- هغه څوک چه په رشوت ورکولو سره آزاد او مجبور
شي او رشوت، رشوت اخستونکي ته ورکړي باید
دی چه په یوه هفته کښې د دولت ته خبر ورکړي،
هر کله چه په قناعت بخښونکو دلیلونو سره ئې

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 129 of 140



رشوت ثابت کړې هغه سزې له جزا تخفیف معافیږي

(۳۰۴) هغه څوك چه مامورین د دولت ته په منځ د كولو د وظیفې د دوی كښې یا په یو كار كښې چه د دوی خدمت پورې تعلق لري، په كم سبب سره لپاره د ماتولو د قدر او ناموس د دوی، تحقیر وسپكوالی وكړي، یا په حق د دوی كښې دیره ژبه په شان د فحش او بد ویلو سره وكړي، یا ئې ځنپله ودیره وي (تعزیر) كه دا معامله په منځ د هغه كښې چه یوه محكمه یا یو مجلس د مشورې په كار باندې مشغول وي، پیښه شي، نسبتاً (تعزیر).

(۳۰۵) هغه څوك چه د نظامي او د كوتوالي او د پولیس سپاهیان او منصبدارانو ته په منځ د وظیفې د دوی كښې حقارت او سپكوالی وكړي (تعزیر).

(۳۰۶) بې رسمي سندونه او ورقې كه له غفلته او بې پروائۍ د هغو مامورینو چه په ساتنه د هغو سره مكلف د

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 130 of 140



محوا و(اتلاف) خراب کړل شي، غفلت کوونکی (تعزیر)

(۹ س):- هغه ماموران چه د آمرانو خپلو کښې تیعزتي او سپکښې وکړي (تعزیر).

او که داسې کښې په سبب او مقابل د کم آگاهی (تنبیه) کښ وي، چه په کولو د وظیفی د دوی تعلق لري، شوي وي، بوسیره په هغه (له ماموریت څخه معزولیږي).

(۱۰ س):- هغه ماموران چه په وقت د کولو د هغه امر و کار کښې چه آمرانو د دوی ورکړی دی، سستي او بی پرواهي ښکاره کړي، تو دوی خلی پودي (تعزیر) او په خلورم واری بوسیره په هغه (عزل).

(۱۱ س):- که چیرې مافوق آمران په هغې وظیفی او کار، د لاس لاندی ماموریتو خپلو چه په دائره د واک او صلاحیت د لاس لاندی ماموریتو کښې معلوم شوي وي، په دارازی مداخلې او [illegible] ارشی چه له دوی څخنی

واک او اختیار واخلی (تعزیر).

(۳۱۲): هغه مامورین چه بهرله وظیفی دخپل د ماموریت او مرتبی له حځی نامناسبه حرکتونه وکړی اول او دوهم او دریم ځلی (تعزیر) په خلور مروادی (عزل له ماموریته)

(۳۱۳): نائب الحکومه ترعلاقه داره پوری او مستوفی ترمامورانو د مالیی پوری او لښکر تومانان پښه شاپو د ماموریت خپلوکښ ترهغه وقته پوری چه په دغه حیثیات او مرتبو په شایود ماموریتو خپلوکښ موظف دی که له سرکاری ځنکو او مالونو او شیانو ځنی په نومه باپه تومره هغو کسانو چه لطعًاد دوی په مال کښ شریکی لری په بیعه ئی واخلی له نوکری ځنه طرح او هغه شیان ئی چه اخستی دی بیرته ورځنی اخستل کیږی ۲۰۰ او

قیمت د هغو پیوټه ورکاول کیږی ،

(۳۱۴) یو هغه ماموران چه په جوړه ولود ورقو د سوانح عمری خپلو سره مکلفیت لری ، هغه قابل د تعلیم هلکان د دوی چه عمر د دوی اتو کلو ځنی کم او له دوه لس کلو څخه پورته نه وی د هغه ځای په مکتبو کښی په داخلولو د دو سره مکلّف دی په هغه صورت کښی چه نسبت و عمل کولو ته په دی قاعدی باندی سُستی او بی پروائی وکړی ، اول او دوه یم ځلی (تعزیر) او دریم واری له ماموریت څخه طرد کاوه شی

## خاتمه

(۳۱۵) یوه کمه واقعه په دائرو د حکومت کښی کښی پلنبه شی چه حکم د هغی په دی نظا

مناسبه

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 133 of 140



کښې نه وي د فقه شریفې له مخې ـ سم له مذهب
د حنفي سره فیصله او خلاصه کړي، صورت د
هغې پښې د شورای دولت ته ولیږله شي، ترڅو
چه پس له قانوني تصویب او منظورۍ د شاهانه
تخته په دې نظامنامه کښې داخل شي .

(۳۱۶) په اجراکیل او برابره ولو د مادو د دې نظامنامې
وزارت داخلیه او وزارت عدلیه او شورای
دولت ماموران او مکلّف دي .

(۳۱۷) هر اسې رنګه په اجرا کولو د هغو مادو کښې
چه جزاء اداري پورې تعلق لري، هغه ماموران
چه په نظامنامه د تشکیلات اساسي کښې په
فیصله او خلاصولو د هغو سره موظف دي هم
مکلف دي .

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r Image 134 of 140



# ضمیمۀ د نظامنامۀ د جزای عمومي

## ۲۵ ثور سنه ۱۳۰۶

(۱۸۳) هغه کسان چه تور ورته زهر ورکوي پرده شان چه لاندي بیانیږي سزا ورکاوله کیږي:-

(۱):- هر څوک چه زهر خوړونکي یا سُکُنکي سړي نه پوهیږي چه زهر دي او وئي خوري، زهر ورکونکي په دي قرار سره چه لاندي راځي نسبتاً (تعزیر):-

الف:- که سبب د مرګ د هغه شي (تعزیر ترحبس دوامه).

ب:- که سبب د مرګ نه شي او ضرر پیدا کړي (تعزیر).

ج:- بواشي په ورکولو د زهر بي له پیدا کولو

د ضرر (تعزير).

(۲) هر څوک چه ئې زهر په زور سره په ستوني کښې توی کړه شي يا د چا سره له دې چه زهر ئې ورکړي په جبر سره پنډولئ تېر کړي، هر کله چه دا دواړه کار په شيه د عمل کښې داخل دي سره له (۱۲۳) مادې د جزای عمومي سره او په هغه صورت کښې چه سبب د مرګ د ده نه شي، په قرار د فقرو د (ب) او (ج) د اولې مادې د دې ضميمې کوونکي د ضميمې د (۲۵) ثور (۱۳۰۶) هغه ته سزا ورکاوله کيږي.

(۳) هغه کسان چه په خوړلو يا څکلو د زهرو يا په برابرولو د وسلې يا نور زخمي کوونکي او وژونکي شيانو سره د خپل ځان د وژلو اراده وکړي، او تواني ئې و نه شي (تعزير).

(۳۱۹) - هغه کسان چه لر مشهور بالفساد شوي وي شرع په
هغو ځايو کښي چه په خيال د کولو د کارونو د فساد
نيت کړي وي ونيول شي او له يو ځاى کيدلو له
هغو سره په دغي ارادي کښې ځيني ځانونه پاک
نه شي کړي اګر که فساد نه وي شوي (تعزير)

ضميمه (۱) جزء (۲۰۲) ه

(۳۲۰) - هغه مامورين چه حکم د جزا د حبس تعزيري
د حقوق الله پوري شوي که سم له (۷) مادي د اساسي
نظامنامي له جزا څخه معاف شي معزوليت د دوي
هم تابع د عفو د جزا دي، پاره د ماموريت د حکم
قبول کيدلاى شي، هر کله چه احکام کښي
پواشي عفو د حبس خاص شوي وي، له دي قاعدي
څخني وتلاى دي.

## امضاء د منتخب علماؤ د مجلس د لوئي جرګي:-

مادي د دي نظامنامي سم له حکوده شرع شريفي او برابر له
پاک مذهب د (حنفي) او بنا په قوي مفتي بها روايتو مره دي ده

مولوی عبدالحی پښتنی بریښ تمیز - المصحح مولوی محمد ابراهیم کامه‌ونی (؟) بنام الله ابوالفتح فضل ربی بګلهو - اقر عبد الخالق الصدیقی مولوی کمال ست عفی عنه .

په داخلول او اجراکولو ددی نظامنامی په نظامنامو د دولت کښی مرام او اراده وکړله ، او نظامنامه د جزای عمومی چهاپ د (۱۳۰۰) متروکه او منسوخه دی .

| ددی غلطنامی صحیح چه خاوند د دی نظامنامی په چهاپ کښی غلط شوی تصحیح | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] |
| ۳ | ۱۰ | نوی | قوی | ۴۴ | ۱۳ | بیگانه وی خاوری ته | د تجارتی خاوری ته | ۱۱۱ | ۲ | حکم | هغسی حکم |
| ۴ | ۱۲ | ددی | دده | ۴۶ | ۱۸ | اوډیل | اوویل اوډیل | ۱۱۵ | ۹ | بل یانه | بل چاته |
| * | ۱۵ | یری شوی | پټ شوی | ۴۸ | ۷ | لوتولو | اوتولو | ۱۳۳ | ۳ | داتړو | دادیرو |
| ۵ | ۱۱ | مختر | مخته | ۷۸ | ۳ | مادیه | آثار دقائد | ۱۲۶ | ۴ | پیبکلو | پایه لیکلو |
| 〃 | ۱۳ | داسنیده | داسنیدنی | ۷۹ | ۱ | ده لازمو | دده لازمو | * ۵ | ۶ | محکومیت | د محکومیت |
| ۸ | ۴ | تیه | پیه | 〃 | ۲ | سبنسنه | ابښیدلو | | | محبس یه | د محبس ته پیه |
| ۱۰ | ۵ | دیوکال | تریوکال | ۹۱ | ۱۰ | مداخله | ضبط او | ۷ | ۱۵ | مستقل | یا مستقل |
| ۲۲ | ۸ | ددی | ددی | ۹۵ | ۷ | څرنګوله | وړلو چه | ۱۶ | ۱۵ | لی دی | سم لی دی |
| ۳۸ | ۱۱ | پرملات | پرملاتړ | ۹۶ | ۱ | کرشوکیدو | کړه شوکیدو | | | | |
| ۴۰ | ۱۵ | ولیجی | واچیدی | ۹۷ | ۲ | ابنکری | ابنکری دی | | | | |
| ۴۲ | ۶ | نوره | توره | ۱۰۰ | ۲ | که یو کیدو | | | | | |
| ۴۴ | ۴ | دبیمن نه | دښمن ته | ۱۰۳ | ۱۰ | غوستلو | غوښتلو | | | | |

:(٣١٢)

:(٣١٣)

http://hdl.handle.net/2333.1/rjdfn34r 